Kandahar. Kabul
Vol.3, No.5, Asad 1341
(July 1962)

کندهار



د کندهار میخانیکی ښو و ځلی

ښاغلی عبدالهادی «داوی»

چار گل

ناوې! څه ږدې په اوربل باندی قطار گل
انسان کله سی کېدای په ډېر سنگار گل
«خاموشی» او «اطاعت» دخپل مېړه کړه
«تربیت داولاد» ښه دی تر خروار گل
«سرر ښته د کور» هر گوره اوی هنر دی
اکتفا کړه ښایستې په دغه «چار گل»

++++++++++++++++++

شعر دمجارستانی «پتوفی»

پښتو کوونکی «لایق»

غروب

لمر لکه مړاوی گل د مځکی اور ته
سر نیټوی او کښته کېږی پسې
دده له سره او طلائی جام څخه
ورو، ورو دنور پاڼی توئېږی پسې
د دنیاگی له شوره ډکه ورځه
ورو ماښامېږی او چوپېږی پسې
پدې ماښام کی د ناقوس شرنگهار
غوږ ته له لری را رسېږی پسې
له هغه لری ښایسته ستوری
له اې! آزاده وارسته ستوری

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
29 MAR 2005
6 CONTINUATION 6

کندهار

میاشتنی خپرونه

ادبی . تاریخی . اجتماعی . علمی

مسئول چلوونکی:

ا،م «کرزی»

اداره: د شهیدانو واټ

د دولتی مطبعی څنګ ته

د ۱۳۴۱ لمریز کال د [اسد] میاشت
د ۱۹۶۲ میلادی کال د [اګست] «
د دریم کال پنځمه ګڼه
پرله پسې ګڼه [۲۹]

کالنی «بیه»

په کندهار کی [۲۸] افغانی
په دننه مملکت کی [۳۲] «
په دباندنیو هیوادو کی یوډالر

ددې ګڼې مضامین

دمدنیت وسایل	په [۱] مخ کی
زموږ د پوهې وسایل	« [۳] « «
دپمراسی دپمتریاس دی	« [۱۰] « «
ماشو خپل څوك وو	« [۱۳] « «
[به قفس کی بلبل یاد بلبل ژړا]	« [۲۰] « «
ښاغلی حاجی عبدالغفور خروتی	« [۲۳] « «
ستوری	« [۲۵] « «
چه « ولیکو - که « چی »	« [۲۷] « «

د مدنیت وسایل

مدنیت د بدویت ضد شمېرل کېږی . دا ځکه چی په بدویت کی انفرادیت غالب او په مدنیت کی ټولنه او تجمع پرته ده، موږ د مدنیت و تاریخ ته یو معین وخت نه سو تاکلای او نه ویلای سو چی په کوم وخت او زمان کی انسان په مدنی ژوند پیل کړی دی خو د انسان د طبیعی نفسیاتو له مخی دا خبره څرګندېدلی شی له کومی نېټې څخه چی انسان په موجوده صورت ؤ هیولا سره د مځکی پر سر په ژوند پیل کړی دی له ده سره د فطری غوښتنی په اساس مدنی تمایل ملګری وو دا ځکه چی انسان په یوازی توب سره نه ژوند کولای شی او نه دومره قدرت لری چی په یوازی سر د ژوندانه چاری پوره کړی همدغه د کمزوری احساس انسانان مجبور کړل چی یو له بله ژوند سره وکړی او د ژوندانه چاری په ګډ تعاون پر مخ بوزی، د دوی د همدې راټولېدلو څخه، وطن، حقوق، اخلاق او انتظام پیدا سو او له همدې شیونو څخه مدنیت وزېږېدی نو ځکه باید موږ د مدنیت دا سی تعریف وکړو چی عبارت له هغو وسایلو څخه دی چی په انسانی ژوند کی آرامی، هوساینه او تهذیب پیدا کوی او د ژوندانه سطح د ښه والی او سمون وخواته روانه وی او وروسته؟ وروسته ښایست او ښکلا هم زېږوی؛ څرنګه چی د انسان په لومړی سر کی د خپل فطری خواهش سره سم د کار او زحمت څخه منظور آرام ژوند کول دی، نو ځکه تل کوښښ کوی چی د کار او زیار په سیوری کی هغه وسایل او شیونه ایجاد کړی چی هغه د ده فکری او مادی آرامتیا برابره کړی د همدې مفکورو او طبیعی سوابقو له مخی مدنیت زېږېدلی او پراخ سوی دی، خو دا خبره هم باید په یاد ولرو چی د بېړیو د تېرېدو او د زمانې د رژېدو سره سم د مدنیت وسایل هم زړېږی او خپله وظیفه په ښه شان سره نسی اجراء کولای د مثال په ډول یو وخت د ټولنو په منځ کی د هغه وخت د ضرورت سره سم د تلو، راتلو او حمل ؤ نقل د پاره د کاروانو او قافلو څخه استفاده کېدل او دا کار په خپل وخت کی ډېر ګټور او د جامعې د اقتصادی او اجتماعی ژوند د پاره ئې ښه خدمت کاره . خو نن ورځ د مدنیت دا وسیله ډېره زړه سوی او د انسانی ژوند له ښې څخه وتلې ده دا ځکه چی د عصر اقتضا بدل سوی او په دې بدلون او اوښتنه کی د ژوندانه او مدنیت د بهتری وسایل هم بدل سوی دی د کاروانو ځای موټرونو، رېلونو او الوتکو نیولی دی کومه ټولنه چی په دې عصر کی د مدنیت له دې شیونو څخه بې برخی وی د هغه مدنی ژوند به هم نیمګړی او د ډول، ډول سختیو سره به مخامخ وی .

په پخوانیو زمانو کی د انسانی ژوند د بقا دلوی رکن زراعت څخه په خپلو مخصوصو آلاتو استفاده کېدله اما نن ورځ دا د استفادې آلې ډېرې زړې شوی او له کاره لوېدلی دی که څه هم یو مخیزه لا بابېز او د استفادې څخه نه دی وتلی خو د وخت او زحمت په مقابل کی ئې ګټه ډېره ناچیزه او خورا لږ ده چی د زحمت دا محصول په دې عصر کی د جامعې د ضروریاتو پوراینه بېخی نه شی کولای نو د ژوندانه د

استفادې هره وسیله چې د ټولنې ارتیاوې نشي پشړ کولای موږ هغه ته زوره اوله کاره لو پدلی وایو، تاسو یوه ماشین ته وګورئ چې له څه زمانې کار کولو وروسته د هغه پرزې هم زر بیزې او خپله وظیفه به نه ټوکه بیا نه شي اچرا کولای، همدغه رنګه د ټولنو په سیر او تحول کې د ژوندانه وسایل خپل ارزښت بایلي او د الیشپدو او تجدد استلزام کوي، یوه کسان او هوښیاري چې امعي هغه دی چې د خپل اجتماعي ژوند حرکت او موقف پېژني او د زمانې د تېرېدو او دبېرېدو د اوښتلو سره سم د ژوندانه لوازم هم د عصر د اقتضا سره نوی کړي او په لارو چارو کې هم د اجتماعي مصالحو د پاره بدلون او تغیر راولي کومې ټولنې چې د زمانې دې تغیر نا پذیره قانون ته ښه نه ځیر کېږي او خپل اجتماعي موقف ښه نه پېژني هغه به تل د ژوندانه په دګر کې د خوار بو او ختیو سره مخامخ وي او د مدني ژوند ودانې به نیمګړې وي عصر او زمان نه پوازې د ژوندانه زړې پرزې بدلوي بلکې په خپل ګړندي وړانـدې تګ او نوې اختراعاتو سره د ژوندانه په ټولو اړخو کې داسې څرګند تحول راولي چې بیخي د ارغوني زمانې سره برابر نه کېدای نه شي او سنې عصر د ماشین تخنیک او ساینس عصر دی بېلګه دې شیو نو څخه هیڅ هیواد نه نه مدنیت راتلای شي او نه یې د جنجالي دنیا کې ئې بېلګه دغو عناصرو له مرستې څخه ملي موجودیت ساتل کېدای شي، د افغان او سنې نسل او ټولنې ته به کار ده ترهغه ځایه پورې چې د دوی ملي کلتور ئې منلای شي باید د مدنیت ټول عصري وسایل ځـانته برابر کړي او هغه موانع چې د اجتماعي تکامل مخه ئې نیولې ده هغه به زیار، یووالی او تعاون له منځه لیرې کـړي . ام. کرزی

شعر د روس د مشهور شاعر لرمانتوف

پښتو کوونکی «لائق»

د ژوند جام

په بټو سترګو مو شونډان د ژوند په جام ایښې
د هیلو لار کې مو ګامونه ټول ناکام ایښې
مو نږه بېځایه تودې اوښکې تو یوو ور بـاندې
غمې د اوښکو مو د زړو په جام خـام ایښې
د مرګ شپېږه زمونږ له سترګو پرده لرې کاندې
وا به خلې ټول هغه چې مونږ ځانله تمام ایښې

ها وخت به یو شو چې د ژوند جام لا یخوا نش ؤ
مونږ غولېدلي وو کنډې په رښتیا نش ؤ

ښاغلی «پالوال»

زموږ د پوهې وسایل

له هغه مهاله څخه چې بشر پېښه او بد یا خیر او شر، وجود او عدم ماده او صورت، هیولی او روح جوهر او عرض، کلی او جزئی وحدت او کثرت، کیف او کم معقول او محسوس، علت او معلول فعل او انفعال، معلوم او مجهول محمول او موضوع، مقدمه او نتیجه او نور و پوهېدلی دی همدلاسه ئې داهم په فکر کې ورکړ لېدلی دی چې: دغه پوهه او زده کړه مې څرنګه او له کمې لارې څخه وموندله؟ که ئې چیری خطا او غلطی پېښې کړې وی، همداسې ئې ری وهلی دی چې: ولې او له کوم پلوه څخه نېر ونمه؟.

د پورتنیو پوښتنو غبرګون و هر فکر کوونکی ته د پېر بدیهی دی، او زر تر زره لاس په لستونې له ځانه سره قضاوت کوی چې د داسې معلوماتو په حصول کې له دوه پلوو (عقل او حواسو) څخه کار اخستل کېږی. مګر که چیری څوک پوله نو موږ د دواړو څخه مطلقاً د علم مدرک و ګڼی هغه به ښائی چې د کوم علت له مخې څخه وی، د هغه چا له اجازه نه ور کوی چې د دواړو قبول دی و کړی مثلاً د متافزیکی موضوعاتو په خوا کې چې فکر کوونکی په مستقیم صورت سره اود فکر کولو په ترڅ کې د حواسو سره هیڅ اړه نلری ځکه ئې نو د خپل ذهن پو ور- تر لې او بې حواسو فعالیت بولی حال داچې ریښې او تنه ئې محسوسات ور چوروی، مګر ښاخونه تعقل. یا به ئې علت د عقل او حواسو تر منځ د ترجیح او ښاوالی درجه وی، چې په پخوانیو کې ئې زښته ډېر اهمیت در دلو دی. ځکه چې دوی عقل تر حواسو ښه تره ګاڼه، او علت ئې هم داؤ چې حواس په هرچا کې مشترک وه مګر عقل مشترک نه بلکه د شرف ؤ مورونې او پرنندی کښلی برخه وه. د دې مطلب دښه تر ا ترضیح له پاره د دوه ګډ لېدلی سې چې حواس کرده سره له چا څخه نه نفی کېږی به معنی نسو ویلای چې دغه [پلانی] یو بې حواسو سړی دی رولی د دې پر ځای باندی کېدلای سی چې د عقل نفی دی په ژبه کې و منځ نه راسی، لکه داسې چې ویلای سو دغه [پلانکی] یو بې عقل و ګړی دی، به معنی فکر نسی کولای، چې بدې صورت کې او د عقل او رنوب و حواسو نه څرګندیږی. امادې په بر- خلاف ځینې بیا د عقل پر ځای بې اندی و حواسو نه ترجیح ور کوی، او علت ئې دادی چې وائی بهله حواسو څخه نه د شی فکر کېدلای سی او نه ئې وجود اثبات موهی. همدارنګه ځینې بیا د دواړو (عقل او حواسو) طرفداران دی.

او مړنی دلی له ډېری پخوا زمانې څخه داسې عقیده در لوده چې د روح، هیولی او نور و موجوداتو او واقعاتو پلټنې بوازې د خیال او تعقل له لارې څخه امکان لری. بس نو بدې خوا کې چې به ئې هر څه د خپلې خوښې او هیلې سره سم او به هره

توګه چی به وه، صحیح او سم ثابتول، مګر هغه څه چی به بیا واقع او د حواسو له ادراک سره مطابق وه، غلط او ناسم پېژندل. له همدې پلوه به مشاهدې او تجربې کوم علمی ارزښت او قیمت نه درلودی بلکه د غلطیو منشاء به لا هم له دوی څخه انګېرله کېده، یعنی حواس نه، اما هر څه چی وه هغه تول صرف تعقل ؤ.

هغه چا چی به داسې مذهب درلودی او یا ئې لری، عقلیون که به له دې څخه برخلاف وه یا وی، هغو ته بیا، مادیون، مګر داسی حسیون هم وه چی له مادیونو څخه وتلی او په معنویونو کی ئې ځای درلودی هغه څوک چی بیا له نوموړو مذهبو څخه مخالف او د حقیقت پر ځای باندی ئې شبهه اصل ګڼله، شکاکان، ورته ویل کېږی.

د دې لپاره چی د عقل او حواسو بېلوالی څه نڅه واضح کړای سو، ښه به دا وی چی د ځینو پخوانیو فلاسفرو افکار پدې خوا کی په لنډ او مجمل ډول سره راوړو، چی به هم د دوی ترمنځ اختلاف او هم به د تاریخ او زمانې له مخی څخه په یوه موضوع کی د فکر کولو طرز را معلوم کړه سی.

* * * *

پلاتو (۴۲۷-۳۴۷ قم)

افلاطون عقیده لری چی علم د انسان په وجود کی پټ پروت دی، او تر دغه ژوندانه د مخه ئې روح د مجردانو او معقولاتو په جهان کی ژوند کاوه او هغه ئې توله زده وه، مګر کله چی و مجازی دنیا ته راغی او په تن کښېوتی ء؛ توله ئې هېر سوه مګر نه پرمخ باندی چی له همدې پلوه د شیانو او واقعاتو له حقایقو څخه په لږ څه توجه سره برخمن کېږی او علم حاصلوی. ځکه نو دی وائی چی محسوسات توله تش څرګندیدونی دی، چی متغیر او راز راز حالات لری، یعنی متکثر نسبی، فانی او په زمان او مکان پوری مقید دی. ولی د دې په برخلاف، معقولات حقایق دی چی اصیل، مطلق، باقی، لا یتغیر او په زمان و مکان پوری اړه نلری، لکه چی وائی: محسوسات د معقولاتو داسی فرعه ده لکه سیوری و خاوند ته.

پر هغه څه چی علم حاصلیږی هغه عبارت له هغو مادی او معنوی کلی امورو څخه دی، چی هغه توله معقولات او له حواسو څخه بالکل بې نیازه دی. څرنګه چی دغه توله په تعقل سره حاصلیږی، او حس بیا د کلیاتو سره نه بلکه د جزئیاتو سره اړه لری چی هغه واړه عوارض او اتکلی دی، یعنی حقایق نه دی.

ارسټو (۳۸۴-۳۲۲ قم)

ارسطو ذهن یوه سپینه لوحه ګڼی چی معلومات د حواسو په واسطه سره، هغه چی له تجربې څخه د استعداد سره سم پر هغې باندی کښل کېږی. خو د علم د حصول په خوا کی د پلاتو سره یوه عقیده لری، چی پر جزئیاتو باندی، یعنی هغه څه چی محسوسات صورت نه نیسی، بلکه اصل کلیات دی چی په تعقل سره موندل کېږی. څرنګه چی په دې خوا کی د استاد او شاګرد نژدې یو مذهب دی مګر بیا هم په وروسته کی بېلوالی پیدا کوی، داسی خو پلاتون معتقد دی چی معقول مستقل خارجی وجود لری، او ارسټو بیا داسی ادعا کوی چی معقولات او کلیات یوازی په محسوساتو کی خارجی وجود پیدا کوی، نه بېله دې څخه حال دا چی استاد معقولات له

محسوساتو څخه بېل ګڼی مطلب داچی کلیات اوجزئیات سره جدا بولی، چی اوستری بې حقیقته اوموهومی پېژنی. که څه هم شاګرد دنوموړو دواړو ترمنځ وفرق ته قایل دی مګر یوازی په ذهن کی، نه په خارج کی، ځکه چی محسوسات د معقولاتو مقدمه ګڼی اود کلیاتو موندنه د جزئیاتو په استقراء سره میسره بولی.

فرنسس بېکن (۱۵۶۰-۱۶۲۵م)

نوموړی دحواسو طرفدار دی او پدې خوا کی پر پخوانیانو باندی، هغه څرك چی بېله حواسو ئې تش له عقله څخه کار اخیست انتقاد کوی اووائی چی دحقیقت کشف یوازی په تعقل اود کلیاتو څخه د جزئیاتو په را ایستنه سره نه میلاویږی. له همدې لوری څخه باید په بله توګه سره په جزئیاتو کی مطالعه وسی، څو د ترتیب، ترکیب او استقراء له مخی څخه کلیات ځنی حاصل کړه سی، چی د حقایقو موندنه ممکنه کړی ولی بېله دې څخه تعقل او استدلال بې مأخذه او بې اساسه دی نو پداسی ترڅ کی چی هر څه ځنی مراد یږی او یا راوزی واړه وهمی او [اوتوپی] دی نه علمی او محقق؛ یعنی د طبیعت له حقایقو سره بې اړی او واړه زموږ ذهنی مجهولات دی چی کوم واقعی اوپوره سم ارزښت نه لری.

رنه د کارت (۱۵۹۶-۱۶۵۰)

که څه هم نوموړی دمشاهدې او تجربې پرخوا دی مګر بیاهم عقل اصیل ګڼی اوحواس ځنی بېلوی، یعنی پرځای ددې چی وحواسو ته دعقل د بنسټ حیثیت ور کړی، وائی چی حس تېر وزی او په علم کی داعتبار وړ نسی ګرځېدلای، ځکه نو د حقایقو دموندلو وسیله نه ګڼل کېږی. بلکه پرځای باندی ئې بداهت، شهود، وجدان ساده پیښی اوداسی نورابتدائی امور د تعقل ورونه او دروازې دی. سربېره پر پورتنیو کرښو باندی، د کارت داسی فکر هم لری چی ځینی معلومات اود حقایقو دادراك څه، څه برخی د انسان په نفس کی اخښلی سویدی یعنی فطری اوعقلی خاصیت ئې دی.

سره له دې چی نوموړی تېروتنه له حواسو څخه بولی، یو بل راز عقلی غلطی او خطا ته هم قایل دی چی هغه دارادې له مداخلې څخه په عقلی امورو کی بولی داسی چی زموږ عقل مقید او محدود دی مګر اراده آزاده او نامحدوده ده. نو هر کله چی اراده په هغو کارو کی کم چی عقل په څرګنده او بېله توګه سره نه وی درك کړی، داخلیږی عقل په خطا کښېوزی.

مالبرانش (۱۶۳۸-۱۷۱۵)

نوموړی دهغو غلطیو په لار کی چی وانسان ته ور په بېڅه کېږی ډېر مخ ته ځی اوتردې اندازې پوری ئې له حواسو څخه بولی څووائی: د خطاؤ اصلی علت دادی چی زموږ روح اوعقل په تن کی اخته سوی اوله همدغه پلوه څخه داحساساتو، تخیلاتو نفسیاتو اود تمایلاتو د قوو درلوونکی سویدی، ځکه نو همدغه توله د خطاؤ لاری دی چی ورونه ئې پر ذهن باندی ور پرانستلی اودعقلی تېروتنو وسیله ګرځی. حال داچی حواس وانسان ته دتن دمحافظې له پاره دی مګر ده خوشی د پوهنی اوعلم وسیله ګڼلی دی. انسان ځکه اوهغه مهال تېر وزی چی دی دخپلو حواسو په تشو څرګندونو اعتمادو کړی

او هغه د موجوداتو حقایق وشمیری، حال داچی نوموړی د واقعاتو او شیانو هغه عرضې ښکاره کېدنی دی چی بېله ګڼنی کم حقیقت نلری.

بروخ سپینوزا (١٦٣٢-١٦٧٧)

نوموړی داسی فکرلری چی باید علم پر بسیطو اولو مړنیزو شیانو باندی، هغه چی بدیهی وی، په شهود سره صورت ونیسی ځکه چی هغه روڼه، روښانه او اوله معلومو سره برابر دی. یعنی د صحت واثبات لره ئې ودباندنیو نخښونه کومه اړتیا نسته. ولی چی جزئیات نه دی او په زمان او مکان پوری هم کمه اړیکه نلری، ځکه چی هغه سره اوړی او د حقیقی علم موضوع نسی ګرځېدلای. په همدغه شانی هغه علم چی په شهود سره پر بسائطو باندی صورت نیسی کم انتزاعی امور او کلیات هم نه دی، ځکه چی دغه حقیقت نلری بلکه د شیانو او پېښو ګډ صورتونه دی چی د ټولو له ذهنی تجمع څخه انسان عاجز دی یعنی نسی کولای چی د ټولو موجوداتو مختلف صورتونه په ذهن کی راغونډ او پخپله مخیله قوه سره له هغو څخه انتزاعی او اجمالی صورتونه برابر کړی حقایق ئې وګڼی او کلی ورته ووائی. ولی خبره داده چی حقایق د دې په برخلاف عبارت له هغو څرګندو او روڼو معلوماتو څخه دی چی وجدانیږی او تعقلی جنبه لری.

ګاتفریډ ویلهلم لیبنیتځ (١٦٤٦-١٧١٦)

نوموړی داسی فکر کوی چی انسان درې رازه ادراکات لری چی یو ئې پټ، بل ئې څرګند او دریم ئې د عقل له خوا څخه صورت مومی. پټ ادراکات عبارت له هغی احستنی څخه دی چی انسان نه ځنی متنبه کېږی، یعنی د درک کولو تمیز ئې نسی کولای یا نیهام او بالقوه وی. مګر څه چی څرګند او روڼه ادراکات دی، هغه داسی اخیستل کېږی چی څو توجه و ځانته وراړوی یعنی متنبه بالفعله او ښکاره احساس ئې کېدلای سی؛ ولی دا په هغه ترڅ کی چی پټ او نیهام ادراکات قوت ومومی او د څرګند و مستقیمو ادراکاتو و پوړته را پورته سی، مطلب دا چی څرګند ادراکات عبارت د نوموړو پټو ادراکاتو له ترتیب او ارتباطه څخه دی چی وسر بېرن حالت ته ئې ویل کېږی. څرنګه چی وګړی تل د خپلو کړو او ادراکاتو په اصلی علت او سبب نه پوهیږی، اساسی وجهه ئې هم داده چی دوی د خپلو پټو ادراکاتو څخه غافله او بیده پاته وی نو په هغه صورت کی چی دوی ئې احساس وکړی او څرګندو ادراکاتو و مرحلی ته ئې را ورسوی، پدې وخت کی عقل ارتباط قایموی او نتیجه اخلی.

توماس هابز (١٥٨٨-١٦٧٩)

هابس داسی فکر درلودی چی واقعات یا موضوعات دوه پلوه لری، چی یوه خوا ئې په فلسفه او علم پوری اړه لری او بله خوا ئې نه پوری لری. کوم پلو چی فلسفه او علم سروکار ورسره لری، هغه یوازی د اجسامو ترکیب او تجزیه ده، چی دغه بیا لکه څرنګه چی یوه بدیهی موضوع ده، په ماده پوری اړه لری. دا دی هم له منځه وتلی نه وی چی د انسانانو خویونه دودونه، روابط او نور واړه داسی علوم چی مدار ئې عمل وی پر حس او تجربه باندی ولاړ دی. دالا څه حتی د تفکر او تعقل اساسی بنسټ هم همدغه

حس دی .

هغه محسوسات چی له خارجه څخه ئې حاصلوو، زموږ په ذهن کی د حافظې لخوا څخه ساتل کېږی چی وروسته ئې جمع او تفریق کول زموږ فکر او تعقل جوړوی .

ژان لاك (۱۶۳۲-۱۷۰٤)

نوموړی د خپل وخت د فلاسفه ؤ په برخلافه، په ذهن کی د معانیو او تصوراتو فطری والی تر پښو لاندی کړ، او په خورا ځغرده سره ئې د هغو په چپله داسی ومنله چی زموږ تو له معلومات اکتسابی دی، ولی که چیری فطری وای باید همیشه زموږ په ذهن کی حاضر وای، او که ووایو چی فطری دی خو انسان ځنی اتر نه دی، دا یوه داسی خبره ده چی بې معنی او تناقض لری. بل دا چی، که فطری وای نو به هرچا معلومات درلوډای او وتحصیل ته به کوم حاجت پاته نه وای .

ځینی فلاسفه چی د انسان معلومات فطری، سره مشترك او د هغو ګډ تصدیق ئې دلیل بولی لاك داسی عقیده پکښی څرګندوی چی: وګړی له کوچنیوالی څخه د معلوماتو په اکتساب پیل او یو له بله ئې سره زده کوی؛ چی له همدې پلوه څخه اکتسابا سره مشترك دی، نه فطرتاً. همدغه رنګه دا حتمی نه ده چی یوه جامعه به یو شی په ټولو تصدیقوی، بلکه ډېر داسی سړیان سته چی ځنی وزی، مثلاً لکه پخپله لاك .

لنډه دا چی نوموړی هم ذهن سپینه لوحه ګڼی او وائی چی معلومات د تجربې په واسطه سره سو که، سو که باندی کښل کېږی چی دوه رازه دی: یو ئې احساساتی او له دباندنیو شیانو څخه موندل کېږی، او بل ئې عبارت له دننیو مشاهداتو څخه دی چی په تفکر سره حاصلیږی وروسته بیا ودغو دواړو ته، د عقل لخوا څخه پرورښت ورکول کېږی او کلی نتائج و لاس ته ځنی راځی .

جارج برکلی (۱۶۸۵-۱۷۵۳)

نوموړی داسی فکر لری چی د انسان پوهه د دوو موجوداتو ترمنځ صورت نسی، چی یو ئې عبارت له ادراك کوونکی څخه دی چی روح دی او بل ئې عبارت له ادراك کېدونکی څخه دی چی بېله هغو تصوراتو څخه چی زموږ په ذهن کی د خارجی موجوداتو له پلوه، د حواسو په وسیله سره صورت نیسی کوم بل شی نه دی، یعنی د عوارضو موضوع اجسام دی چی تر ذهن دباندی کم وجود نه لری، اما چیری چی بیا هم وجود لری، هغه زموږ د روحی تصوراتو مجموعه ده .

سر بېره پردې باندی برکلی د موجوداتو په خوا کی داسی فکر لری چی، هغه څه چی ادرا کېږی وجود لری او کوم چی نه ادا کېږی بې موجودیته دی یا تر دغه په پورته نوموړی داسی څرګندوی چی د موجوداتو سته والی زموږ د ذهن په مقابل کی دی او بېله دې څخه د موجودیت مننه څرنګه او سته والی ئې څه راز امکان لری ؟

ایتن بونوت دو کنډیاك (۱۷۱۵-۱۷۸۰)

کنډیاك د ټولو ذهنی شیانو څخه لاس اخلی او بیرته ئې په داسی توګه رامښلوی چی هغه پر حواسو باندی بنا کوی، یو حس چی د کوم شی څخه په وارو وارو تکرار ومومی، زموږ په ذهن کی ځائی کېږی او د نورو شیانو له احساس سره ئې فرق

ومنځ ته راځي، چې دغه بیا په سوکه، سوکه شدت پیدا کوي ارتباط قائمیږي او د فکر و مرحلې ته ځان رسوي. کله چې د محسوساتو ترمنځ فرق او تشابه ومنځ ته راسي، ذهن دهغو په شاؤ خوا کې د تصور تصدیق او د انتزاع د قوې درلوونکی کېږي. څو همدا شانې تعقل او استدلال.... یا په عمومي توګه سره پوهنه موندل کېږي.

یمانویل کانت (۱۷۲٤-۱۸۰٤) دی په ذهن کې و د مخنیو او وروستنیو دواړو معلوماتو ته قایل دی. پداسې توګه، چې دانسان زده کړه په څرګند ډول سره د حواسو له لارې څخه په تجربې توګه صورت نسي مګر ذهن پخپله هم معلومات لري او هغه باندې اضافه کوي ولې چې بېله دې څخه به پوهه هیڅ صورت ونه نیسي، او د نظري عقل له مخې څخه نسو کولای چې پر جواهرو او ذواتو باندې علم ولرو. یا تر دې په پورته مطلق عقل نسي کولای چې و مطلق حقیقت ته دې ورسیږي بلکه هغه چې د علم د حصول د پاره کار ور کوي عبارت له حس او فهم څخه دی.

جارج ویلهلم فردریک هیګل (۱۷۷۰-۱۸۳۱)

هګل داسې فکر لري چې محسوسات جزئیات دی او حقیقت نلري، هر څه چې محقق دی هغه معقولات دی او عبارت له کلیاتو څخه دی، چه د ذهن انتزاعي امور دی، او په زمان او مکان پورې اړه نلري. مګر هغه څه چې په دوی پورې اړه لري هغه جزئیات دی، ولې چې بېله دې څخه ئې احساس نسي کېدلای، یعنې مستقل، اصیل او بالذات نه دی بلکه عرضي دی چې د عقلي وجود تابع یا فرعه ئې ده، اما اصیل او بالذاته وجود هغه دی چې معقول او کلي وي.

ارتر شوپنهاور (۱۷۸۸-۱۸۶۰) نوموړی دانسان د علم په حصول کې داسې وائي چې، احساسات پدې خوا کې مهم رول لوبوي مګر په یوازې والي سره نه، یعنې نسي کولی چې وموږ ته دی په یکړ صورت سره معلومات او وجدانیات را وړاندې کې بلکه څه چې کولای سي هغه یوازې د وجدان ماده او موضوع برابروي. نو سر بېره پردې باندې هغه څه چې پدې لار کې لوی کار کوي هغه فهم او عقل دی چې له احساساتو څخه معلومات او وجدانیات جوړوي څرنګه چې عقل او فهم ذهني دی، ځکه نو داسې څرګندیږي چې ماده له دننې ذات څخه ذهني ریښه لري. ولې بېښه داسې ده چې شوپنهاور عقل تر ارادې لاندې ایږدي او د هیڅ آلت ئې بولي.

جان ستوارت میل (۱۸۰۶-۱۸۷۳) دی د علم په حصول کې د حس او تجربې پر خوا دی، چې له همدې پلوه څخه علم پر کلیاتو باندې هم و حس ته منسوبوي او وائي چې: و هغه څه ته چې د کلیاتو عقلي ادراک وائي، نه، بلکه د جزئي معلوماتو د معانیو تداعي ده چې و ذهن ته د متصرفه او متخیله قوې په کار کړنه سره، د حس له لارې څخه ور حاصلیږي یعنې تعقل بېله د معانیو د جمعي او ترکیب څخه بل څه نه دی مګر پخپله همدغه دوې قاعدې لري، یوه د مجاورت او بله د مشابهت، چې د دوی په توسط سره و یوې پېښې ته نوري نژدې او ورته واقعات درک کوي. بیا هم ښاغلي میل علم تنها د حس

تجربې او د معاینو د تداعی د قوې نتیجه بولی نه بل څه .

هنری برګسن (۱۸۵۹-۱۹۴۱) نوموړی د محسوساتو او معقولاتو په منځ کی د لومړنیو پرخوا دی او وائی چی ادراک حسی دی نه عقلی . ځکه کله چی موږ د یوې مادې احساس کوو، هغه زموږ په نفس کی تحول پېښوی، چی په رشتیا هم معلومات ځنی راحاصل او نفس ئې تر اغیزې لاندی راځی . نو که چیری له واقعیته سره سم او که ناسم وی، خو حقیقتاً ئې مدرکات بللای سو. علی الرغم بیا د کلیاتو ادراک په تعقل سره زموږ په نفس کی کوم تحول نه پېښوی، نو له همدې پلوه څخه ویلای سو چی عقل د کلیاتو ادراک نه کوی، بلکه هغه ئې تجریدی او انتزاعی مجعولات دی . څرنګه چی تصورات هم د ذهن مصنوع دی؛ ځکه نو له دوی څخه تصدیقات او له دغو څخه بیا قضایاوی، چی عقل پر هغو باندی حکم کوی او په همدې توګه سره دلایل او برهانونه چی د احکامو د پاره ئې راوړی په حقیقت کی ادراک، په هغه معنی چی راوړه سویدی نه دی ځکه چی نفس ئې مستقیماً نسی درک کولای .

برګسن وروسته ځان و خپل دې مقصد ته رسوی چی عقل د ژوندانه لپاره دی نه د کلیاتو او مطلقو حقایقو د درک لپاره .

* * * *

تر دې ځایه پوری مو دزد کړی یا د پوهنی د جوړښت په خوا کی د ځینو فلاسفوو ګڼنی هغه چی زموږ د مقصد پوراینه په کېږی، په مجمل ډول سره ولوستلې، څوښائی په عمومی ته ګه به ئې موضوع هم روښانه کړی وی . مګر بیا هم څرنګه چی د دوی نظریات مې لنډ کړی او مفاهیم پکښی سره کښېکښل سویدی، ځکه به ئې نو ادراک او فهمونه څه نڅه ګران سوی وی .

[دغونه]

د پوهانو پخې خبری

دانسان ښایست کار دی

کار و کړی، کار و کړی او یو آن لاعبث مه تېروی . تل کار و کړی څو په ژوند کی د خوښی او بریالیتوب په خوند پوه شی .

[مازاریك]

سړی په کار او کړو پېژندل کېږی . [پیتاګور]

کار د ژوند قانون دی، د ټولو اکتشافاتو او ټولو پرمختګو قانون . [لاکوردر]

هر وخت چی دا حس کړم چی یو درد، رنځ یا غم ما زهیروی و کار ته پناه وړم، کار زما د دردو ډېرښه درمل دی .

[ولتر]

بدې نړۍ کی هر سړی یو کار باید ولری . بېکاره سړی د ټولنی د اوږو بار او یو بې ګټی غړی دی . [ویکتور فوشه]

کار هر کار او په هر ډول چی وی، د دې د پاره پیدا سویدی چی د بشر د خوشبختی او پرمختګ وسیله وی .

[شانینګ]

یوه ورځ بېکاری لکه یوه شپه بې خوبی ستړی کوونکی ده .

[پتی سن]

ښاغلی عبدالرحیم «هاتف»

دیمراسی

دیمتریاس دی او عاشقه اشوکا ته منسوبه ده

دانسان اجتماعی ژوند ته که
په ژور نظر و کتل سی معلو-
میږی چی دوحشت له حاله بیا
د ماشین او برق تر استخدامه
پوری ئې معناً او مادتاً ډېر
مدارج وهلی دی، عموم محققین
چی دغه مدارج څېړی د مدنیت
نوم د کروندګری د مرحلې
سره نښلوی نو که داجتماعی
مدارجو ترکیب لکه د طبقاتو
تمیز او د نرؤ ښځی تبعیض او
امثال ئې د کروندې سره تړلی
وګڼو کرونده په خپله بیا د
اوبو سایه ده، یا په بل تعبیر
تمدن ته آبداری هم ویلای
سو.

په هوغو زمانو کی چی دانسان
لو آله د طبیعت ور کړی منګولی
وې او وروسته وروسته به ده د
خپل کسب نتیجه یعنی هغه
نیمګړی وسلې په کار اچولې
چی هغه به هم د چمبو په زور
څرخېدې تر قدرتی اوبو پورته
د مدنیت بله منبع نه وه، بټه
دی نه وی پاته چی د اوبو په
صنف کی هم هغو اوبو چی
مستدامی وی ښه مدنیتونه
ور کړی دی.

که د مدنیت د تاریخ پاڼو ته
ګوته لنده کو څرګنده به سی
چی د زړې نړۍ پاخه مدنیتونه
ټوله د سیندونو پرغاړو را
زرغونه سوی دی وګورئ د
مصر مجلل مدنیت د نیل پر
غاړه ؤ سومری تمدن د دجلې او
فراته څخه ژوند اخیستی او د
سند مدنیت د هغه رود مرهون
دی، نور هم که د غوړولی هره
مدنی زانګو وښورؤ غیر له دې
چی د دا راز بر کتمنو اوبو
ترمنت لاندی وی بله خوا نلری.
یوه خبره چی دلته باید پاته نسی
داده چی ځینی د اوبو ډک او
سرزوره رودونه د خپلو مجری-
ګانو له قبضې څخه وزی او
مدنی آثار ورسره وړی پدغه
دلیل نو د استوائی مستانه رود-
خانو له څنډو څخه د قدیم
مدنیت محقق عموماً لاس ناولی
راوزی که څه هم په قوی احتمال
هورې هم بایدی لوی مدنیتونه
تېر سوی وی.

د زړو مدنیتو متتبع ته پدې کی
هم شک نه پاتیږی چی ټوله زړې
مانۍ سره سرۍ دی او ټولو
پخوانیو تمدنو یو له بله ډېره
اخیستنه کړېده په بل عبارت په
هر مدنیت کی تقلیدی مواد
پر ابداعی او تخلیقی موادو
اوړی او پدې توګه د زړې دنیا
د مدنیت شبکه او دل سوېده
پښتونخوا چی د دغی شبکې په
منځ کی راغلې ده د قدیم او
حدیث تمدن د وجود ټول شرائط
لری نو سړی دا نسی ویلای
چی د بابل او ایلدرم او سند
وماوراءالنهر منځ دی له پخو
پخوانیو مدنیتو څخه په تش
لاس وتلی وی خصوصاً بیا پداسی
حال کی چی دا تمدنونه یو له
بله پوره اړه هم ورسره لری.
پښتونخوا او به لری، مراتع
لری؛ هواری مځکی لری
خوندی غرونه لری، لنډه ئې
دا چی د مدنیت چی هر څه په
کار دی هغه لری بلکه یو څه

لا بالا، نو که څه هم زموږ پلټنو
لا تر اوسه زموږ مدنیت پر
پرښه نه دی لګولی قدیم او قوی
مدنیت چی هر و مرو پر دې مځکه
تېر سو یدی تخمین او تصور
باید له لاسه ورنکړه سی ځکه
هره کهۍ چی د پښتونخوا په
هر ګوټ کی د تحقیق په غرض
پر مځکه نښلی دامید بڅری
غور ځوی او له نېکه مرغه
تر اوسه زموږ کیندنی او حفر-
یات خو لا پرېږده چی د بری
سره لاس تر غاړه دی د مځکی
پر سر هم موږ ډېر ځله له داسی
آثارو سره مخامخ کېږو چی
د ځلاند پخوانی تاریخ د یوې
مهمی پاڼی عنوان کېدای سی
د سر پوزې په خوله کی د
اشوکا فرمان ددې خبری ښه
مثال کېدای سی، او تصادفی
نه ده چی ددې قبیله تصادفاتو
سره مخامخ کېږو ځکه زموږ
هیواد هم د نورو تاریخی مځکو
په دود د زمانې په سیر کی
ډېری تودې ؤ سړې څکلی او
راز، راز د یدنۍ ئې لیدلی دی
او که دغه د زمانې کوز ؤ پاس
دا قوامو د شهامت محک وګڼو
نو هر هغه ولس چی دا د لړ ؤ
ځوړ صحنې ئې لږ لیدلی وې

اوس ئې هم د روزګار د ناملائماتو
په مخ کی زغم کم او د برم
چانس ئې خوا ځوا کی دی
پښتونخوا ته چیری چی دویدی
مدنیت رنګ لوېدلی دا وستائی
ثقافت زنه چاودلی، لوی امپرا-
توری تأسیس سوی او مدنی
پېړۍ رژېدلی دی خصوصاً د
هلمند او ارغنداو غاړو ته چی
خپلی تاریخی مجری ته ادامه
ورکوی د درنو مدنی آثارو
د کشف اسره بېځایه نه ده. د
هری مځکی قلمرو د زمانې په
سیر کی له انقباض او انبساطه
سره مخامخ کېږی، زموږ پر
هیواد هم داسی حالات راغلی
دی چی کله به د متجاوز په مټه
کی ځائېدلې او کله به ئې د
سیند او بحر پر څنډو لبرېږی
کول، په دغه شکل ئې په ثقافتی
ډګر کی هم هر هغه مد ؤ جزر
چی تصور ئې د اوج و حضیض ته
ورختای ؤ لوېدای سی لیدلی
دی، که ووایو چی کله به د
پوهنی کاروانو نه له دې ځایه
بارېده او کله به بیا هېښو
ستر ګو د تجسس د اقناع پاره
وشاوخوا ته کتل مبالغه به مو
نه وی کړی.
دغه د حالاتو په تحول کی یو

وار د زړې دنیا لوی سردار
مکدونی اسکندر ته درویشت
پېړۍ پخوا وار ورغی، چی
پر دې مځکه برید و کی او تر
څلورو، پنځو کلو جګړو
وروسته ئې تر هابل سر ځان
وباسی. باید ووایو چی دې ستر
جنرال آریانا فتح کړه خو
وئې نه نیول، تر اسکندر
وروسته دده مفتوحه ممالک
یونانی افسرانو قبضه کړه او
افغانستان هم پدې چکر کی
د دوو، درو یونانی کورنیو
فرمان ته پداسی شکل غاړه
کښېښوه چی متبوع د تابع بڼه
منلی او د خپلی منشأ سره ئې
رابطه شلولې وه یا په معاصره
اصطلاح ددې مځکی تابعیت
ئې اخیستی ؤ. یونانی فرمان-
روایان ددې خاوری د مصلحت
د پاره کار کولو ته مجبور سوه
او هغه چا چی ددې هیواد په
سمسورولو کی ئې ښه اوږه
وهلې ده د دوهمی یونانی کورنۍ
دوهم واکمن د متریوس دی چی
خپل د پلارو رباته داخلی انتظام
ئې د دولت رأس المال کی او
پر هغه ئې په هند کی د آریانا
په نفع فتوحات بنا کړه او پر
جهانکشائی سر بېره ئې ددې

مځکی په عمران کی هم ډېر زیار ایستلی او ښارونه ئې ودان کړیدی، که څه هم په اطمینان سره ویلای سو چی زموږ د مدنیت تاریخ د یونانی اوستائی، او حتی ویدی عصره څخه نه را شروع کېږی، ځکه د ځینو مؤرخینو له وینا سره سم د راویدی مهاجرت وهندته هم د آریائی مهاجرت په توګه له دې خوا سویدی. چی طبعاً د تحقیق په نتیجه کی د هغه هم څرك لګېدای سی خو ځکه چی د دې کرښو موضوع عامه نه ده نو بیرته و دېمراسی ته راګرزم.

د هغو ښارو څخه چی د متریوس اباد کړیدی یو ئې د متریاس اراکوزی یا د کندهار د ېمتریوس آباد دی او لکه ښاغلی کهزاد چی وائی: د دې ښار په اینیت کی د مؤرخینو ترمنځ اتفاق نسته، څوك ئې د کلات په شاؤ خوا کی ګڼی او څوك ئې دارغند او پر هغو غاړو ګڼی چی د کندهار په حدودو کی دی، د دې خبری واقعیت به راتلونکی زمانه یوې خواته کی، خو زما په ګمان د کندهار قرب ؤ جوار ترجیح لری او خصوصاً دغه دېمراسی یا د دېمراسی اطراف دی پدې دلیل چی:-

الف: که ئې له دې خوا ورواخلو یا ئې له هغه سره راونیسو دلته او احیاناً پر نور عالم زاړه او نوی ښارونه د انس او تجانس د اصل په سائقه متصل یا قریب سره راغلی دی مثلاً د کندهار په مورد کی که سړی له ښاره مخ پر مغرب ورووزی د سرپوزی پر سر و تل ئې مغولی او مور پائی کتیبې نظر جلبوی که څه هم په خپله زوړ ښار یا د پوزې سر زموږ د تاریخ تازه او نوی پاڼی دی خو د باباولی د دروازې داشو کا فرمان پدغه مرتبه کی نه راځی پر دغه مخه چی سړی ورسم سی د شرق او جنوب تر اوزمیلو پوری ځای پر ځای د قدیم تمدن له مظاهرو سره مخامخ کېدای سی مثلاً: د ماشور، زلخان او پنجوائی ترمنځ ځای پر ځای ډېری خاورینی غونډۍ لیدای سی او احیاناً د کتونکی نظر د خاورونو کوټو تر حد تېریږی او د منظم ښار د ناړګو ننداره کولای سی مثلاً: د سلاوات (صلواة) د غره پر جنوب غربی کنج باندی د یوه واړه داسی ښار خرابې لیدای سی چی د حصار، بالاحصار او مرکزی ارګ هر یوه د ودانی خطوط پکښی څرګند دی.

لنډه ئې دا چی د پنجوائی سیمو ته په تاریخ کی ودانی منسوبی دی او له کندو څخه ئې د مدنی آثارو د کشف هیله بې ځایه نه ده، او که سړی په دقت دغه خاورنو غونډیو ته وګوری نسی ویلای چی دا دی د طبیعت خوشی امانی وی او تر وزرو لاندی دی ئې د انسان د لاس محصول نه وی راغلی.

دا خبره هم د هېرولو نه ده چی د مځکی پر دې ګوټ زیم استیلا کړېده او په قوی احتمال به د قدیم مدنیت عضوی آثار ښرو خوړلی وی، تر دې حده چی د سلوات ښار چی د غره پر څوکه پروت دی لا هم ښرو کولولی دی او تر پخوانیو کودرو پورته ئې چی د هند پر سلیقه جوړ سویدی پر سطح بل څه نه ښکاری، خو بیا هم که د دغو خاورو له تل څخه ډېرین یا نور غیر عضوی آثار راوکښای سو ممکن د پخوانی تمدن د بلګې کارو کړای سی.

دغه د قرب او اتصال د اصل پر اساس عاشقه چی په نامه کړ ئې داشو کا نښی ځلیږی هم د دغی سیمی په چار پېر کی پرته ده او داشو کا د زمانې د نورو

ودانیو په توګه ئې خپل ځان د مقلوب نامه تر پلولاندی پټ کړیدی، د مدنیت د اتصالی میلان د اصل دغه اندازه څېړنه پر دغه ځای کافی ګڼم.

ب: دورشو طبیعی موقعیت دی چی له هره بابه د مدنیت وتشکیل ته مساعددی او وتفصیل ته ئې ضرورت نسته او پداسی حال کی چی د منډیګک څخه چی دغرو پرڅوکه پروت دی د زرو کالو اثار راوتای سی پدې مناسب محیط کی چی د مدنیت تول د واعی لری څه ډول کېدای سی چی څه دی نه وی؟

ج: [د نامه قرب]. د دیمراسی او دیمتریاس ترمنځ هم تردې کم نسبت نه دی موجود کم چی دعاشقه او اشوکا ترمنځ سته او لکه د افغانستان په نورو ځایو کی چی د اشوکا اباتی عاشقان سویدی دلته ئې (دعاشقه) شکل اخیستی دی او هغه چاته چی د لسانیاتو لږ مبادی معلوم وی د زرو کالو په تېرېدو سره د نومو دغه ادنی اوښتل په خورا سهولت منلای سی.

د: [مسکوکات]. چی د اورېدو له قراره کله کله له دغو غونډیو څخه یوو نیم فلزی مسکوکات وړو او زړو ته په لاس ورځی چی دغه هم له دغو خاورو څخه د طبیعت ګمان پورته کوی.

په دغو دلائلو زه عاشقه اشوکا او دیمراسی دیمتریوس ته منسوب ګڼم او هیله کوم چی د دغی سیمی کندنی ښه نتیجه ورکی.

****

«تتبع»

ښاغلی محمد حسن اڅکزی
دابیاتو د فاکولتې لیسانسه

ماشوخېل

څوک وو

حمید ماشوخېل د پښتو یو نومیالی او پیاوړی شاعرؤ، په کام مومند او د پېښور د ماشو نومی کلی اوسېدونکی ؤ. د حمید شعری نهضت او شهرت د ۱۱۳۰ هـ په شاوخوا کی اتکل شویدی د زېږېدو وخت ئې ۱۱۰۰ هـ څخه د مخه معلومیږی د محمد شاه ګورګانی معاصر او د اورنګ زیب د مرګ په وخت کی ۱۱۱۸ هـ هم دده د شاعری هنګامه موجوده وه. لکه چی دده د کلام څخه څرګندیږی:-

څه به شور نه وی د هند په میخانو کی
چی اورنګ څخه د حکم جام نسکور شو

حمید د پښتو یو ناکخیال شاعر دی. دی هم لکه رحمان او خوشحال د پښتو په شعر کی دیوه لوړ مقام خاوند دی. حمید د پښتو بازار ښایسته او د ناز کخیالی او مضمون افرینی استاد و شمېرل شو. د پښتو شعر ئې رنګین او خوندور کړ. د الفاظو په مزی کی ئې د اسمان ستوری وپېل. په هغو ځایو کی د خیال په وزرو والوت چی هلته عقل هم د عجز سر کښته کړیدی.

دده په وخت کی د پښتو شعر معنوی او ظاهری ښایست پیدا کړ. خوږو معناؤ په خوږو الفاظو کی ځای پیدا کړ. یا په بل عبارت د پښتو شعر یو لوړ مقام ته ورسېد. همدا وجه ده چی حمید د پښتو د شعر استاد وګڼل شو. او د خوشحال او رحمان په

پەدله کی وشمېرل شو . دحمید پەشعر کی نازك خیالی؛ شعری تلازمات استعاری او تشبیهات څېې وهی . دپښتو پەشعر کی ماشوخپل هغه مقام اودرجه اری لکه پەفارسی ادب کی چی دبیدل پەنصیب شویدی . زموږ زبات پوهان دەتە دپښتو بیدل وائی . که خوشحال دپښتو سعدی اورحمان دپښتو حافظ وی نوحمید دپښتو بیدل نه بلکه دپښتو نظمی اوجامی هم بلل کیږی . که د حمید دیوان دی د بیدل پەصف کی دروی دغسی دنیرنگ عشق مثنوی دەتە دنظامی اوجامی پەصف کی ددر بیدلو حق ورکوی .

دحمید شاعری داستادی شاعری دە، دآزاد تخیل اوابتکار شاعری دە، دلتە دفکر ستر کی دیری تیزی او باریك بینه دی، دلتە دتخیل وزرونه تیز اودخیال ذوه بین دیر قوی دی . دلتە دریاب د شکوشمېرل دیراسان کاردی .

دلتە د آسمانو سیاحت او کرزیدل د ستر کو د ربیدو کار دی .

لنډه ئې داچی دلتە دقدرت اوطبیعت تول مناظر غوریدلی اودستر کو لاندی پرانه دی .

حمید دپښتو د ادب داسمان پوخلانده ستوری دی . دەپەخپل سوخیدونکی شعر دپښتو د ادب مقام دیر لوړ کړ . اوله هغو ښېګڼوئې ډك کړیدی چی هغه دژبی دښایست معیار ګڼل کیږی . حمید پەخپل فن کی یومنلی او ونلی شاعر دی . که رحمان دالهامی اوغیبی دریاب څخه مرغلری راکاږی نوحمید دطبعی دریاب پەڅپو کی ځان لاهو کوی . حمید پەپښتو کی دیوه ادبی مکتب اوځانته د جلا سبك څښتن دی . د خوشحال او رحمان لەمکتب څخه ورو ستفیدده وار راوسیږی اوځکه موږ دعصر اوزمانی پەلحاظ دده مکتب تەدریم ادبی مکتب وایو . دحمید مکتب دسوز اوعشق مکتب دی، حمید خپل مکتب ولوړ معیار تەرسولی اویدې مکتب کی هرڅوك خپل فن او لیاقت پەاثبات شی رسولای . دلتە کاظم شیدا قلندر محمدی صاحبزاده، پښتون بیدل، میرزا خان او احمدی صاحبزاده غوندی شاګردان شاملپدای اودې مکتب دیلوم اخستای شی .

دحمید سبك پەپښتو کی پوره شهرت لری اویدې استادانه مکتب کی دیرز بردست شاعران داخل سوی اوبالل شویدی . ناز کخیالی دتخیل اوچتوالی ارمبالغه دې سبك مهم خصایص بلل کیږی . ادبی تلازمات پەزیاته بیمانه لیدل کیږی . دنااشنا استعارانو؛ تشبیهاتو اود تخیل او محاکات مخزن دی .

پەدې سبك کی دخوشحال اورحمان غوندی روانی اوسادګی نه لیدل کیږی . اوداهم بایدوویل شی چی دحمید دتخیل اوروالی څه قدر دده پەکلام کی سختی او بیچیدګی پیدا کړیده . دافکارو پەلحاظ دغه سبك زیات عشقی اوبزمی شکل لری . مګر کله کله اخلاقی اواجتماعی رنګ هم لری اودتصوف اوعرفان لاری راښیی .

لنډه ئې داچی حمید دپښتو دادب یو اومیالی استاد او د یوه لوړ مکتب مؤسس بلل کیږی . دی د شاعرانه فخر اوغرور میدان ته راوځی اوپه خومره سوز او زور سره وائی:-

چی هیچیری پەفارسی کی موندەنشی
هسی سازدی حمید اینبی پەپښتو کی

فارسیانو دحیرت کونې یه غاړې کړې
چې حمید سخن سازی کړه پښتو کې
دخپل سوځوونکې شعر زړغ در باب له خولې څخه اوری .

د حمید سوزنده شعر وسوځوسوم
دا اواز کاندی رباب له زړه بمه
خپل فکرته شاباسی ورکوی او به څرمره خوږو الفاظو سره وائی :-

چې له ښو ښو مړنو دی میدان بوود
شاباس شاباس د حمید فکره نور ځنه

په پښتو کې چې څوك خپل مقام اوسیال نه وینی نو د خپل فکر واکې ټینګوی او داسې وائی :-

اوس د فکر توره واچوه حمیده
چې دی نشته په پښتو کې بل حریف

اوس هم قناعت نه اری اوذغم له صبیه خپل شعر نیمګړی بولی اووائی چې کوندی اسمان نه د شعر زینې کښیږدی .

واسمان نه به د شعر زینې کښیږدی
که حمید دغم له سره زنګون وکینې

که څوك د حمید د نیرنګ عشق دی لاندی بیتونه به غور وکوری البته چې دا ټولی دعوې به بې-مبالغې ښکاره شی .

شعر نه دی دا خو ناب د زخمی زړه دی
یا وتلی د ستی دم له خولې ذمره دی

یا نغمه د لیم بسمل مرغه د خولې ده
یا مجنون نه مسمی ښکلی لیلی ده

یا د وینو اباسیند وهلی موج دی
یا له ښاره د حیرت وتلی فوج دی

حمید به ادبی وینا کې دلوی شهرت څښتن دی دده د شعر او ادب شهرت به هره ټولی کې پورت دی . دی بهشکه د ناز کخیالی د کاروان مشر دی . همداوجه ده چې د ټولو ادیبانو له طرفه د د موشکاف لقب موندلی دی . د ده د پښتو ټول وروستنی شاعران موشکاف وائی . او د هوان ئې به د وومرجان سره مشهور دی . دلته موږ هغه وینا کانی چې وروستنیو شاعرانو دده د ادبی شهرت په باب کې ویلی دی به مختصر دول راوړو .

پیر محمد کاکړ د خوشحال ، رحمان ، عبدالقادر اشرف خان څخه وروسته دده یادونه داسې کوی .

بسله دو به موشکاف عبدالحمید دی
چې ئې ووې ښه نازك نکته دان شعر

اپریدی قلندر چې دده معاصر شاګرد دی خپل خیال داسې ښکاره کوی :-

فضل د سبحان به قلندر د شعر وشو
دا واره سبب فصیح بلیغ ؤ د ماشو

عبدالعظیم د رحمان بابا څخه وروسته بر حمید زیاته عقیده لری او وائی :-

رحمت بیا به ماشووال عبدالحمید شه
چې جوړ کړیده کتاب دی ښه روښان

بحث د عشق د دې کتاب دی به هر ځای کې
د باران به دود یری زاری عاشقان

اشنغری بهدل د شاعرانو به ډله کې د حمید یادونه به داسې دول کوی :-

خصوصا عبدالحمید یکښې حمید دی
چې وینته چې به فکر هسې ځوان دی

عبدالله محزون بدې دول خپله عقیده څرګندوی :-

د حمید موشکاف وخیال نه هوش کړه
کوندی شی دده به شعر تیز نظر

بل ځای بیا وائی:-

د حمید د ژبی څه تعریف کړم
موندہ نشی په پښتو کی بله ژبه

د پښتو په شعر هیڅوك نه پوهیږی
د حمید د نیرنگ راز غواړی خو نشته

میرزا حنان کندهاری وده ته یوه خاصه عقیده لری او خپله عقیده داسی ښکاره کوی:-

بل حمید موشگاف د خیال په شعر
څه به وایم ناسفته در ئې پیل

د حمید د سبك په پیروی او متابعت کی یو بل ځای داسی وائی:-

د حمید د خوش نظمی په زراعت کی
دا حنان ئې دی د شعر خوشه چین

یو بل ځای بیا داسی وائی:-

د حمید د شعر بحر ته حنانه
یو څو څاڅکی دی لوېدلی ستا ابیات

شمس الدین کاکړ وائی:-

بسله ده نه موشگاف عبدالحمید دی
باریکی ئې د کلام ده جان د شعر

قاضی میر احمد هم د حمید د طبیعت زور منی او د اسمان د ستورو پیونکی ورته وائی:-

چی ئې وپیل په زور د طبیعت خپل
دالفاظو په ځای ستوری د اسمان

مستر راورتی مستشرق هم دده په باره کی داسی وائی چی:-

د حمید دیوان درومرجان په پښتو کی لایق د تحسین یو کتاب دی، دده د شاعری په باب کی وائی چی حمید د ملاحظې وړ شاعر دی د ستاینی وړ ابیات لری. او دهر اروپائی مصنف خوښیږی.

د حمید ادبی شهرت د پښتو نخوا ټوله خاوره نیولی او هر ځای ته دده د شعر نوم رسېدلی دی د هری خوا شاعرانو دده خوندور کلام خوښ کړیدی زیاتو شاعرانو دده استادی منلی او د استادی حق ته قایل شویدی.

په عامه طبقه کی د حمید شهرت دومره زیات نه دی پدې معنی چی د رحمان بابا مقام ته نشی رسېدلای دغه مقام یوازی د رحمان بابا په نصیب شوی او د بابا لقب په پښتو کی دده د عام شهرت دلیل دی. د دې خبری دلیل ښائی داوی چی دده کلام څه قدر سخت او مشکل دی نو ځکه هرچا دده د کلام سره علاقه نه ده پیدا کړی. او په کومه اندازه چی په ادبی دنیا کی څرگند دی په عامه طبقه کی هغومره نوم او شهرت نه لری.

حمید په ادبی دنیا کی د سوځوونکو اشعارو خاوند دی دده اشعار د سوی زړه اواز او د یوه دردمن او غمجن زړه احساس دی په عشقی دنیا کی دده افکار له اعتدال څخه پورته دی. دده ټوله شاعری که موږ وغواړو چی په څو تورو کی ئې ځای کړو او خلکو ته ئې ښکاره کړو نو هغه به د عشق، محبت سوز او گداز پاکی کلمې وی. په عمومی ډول ویلای شو چی دده د افکارو او احساساتو مرغلری دالفاظو په نری تار کی پېلی شوی او د شعر امېل ځنی چوړ شویدی.

د حمید په شعر کی سلوك او تصوف هم پوره برخه لری مگر دده تصوف لکه د میرزا او دولت غوندی افراطی تصوف نه دی. دده تصوف اعتدالی دی دی د طبیعت په زور پدې دریاب کی گډیږی د عشق په بازار کی د حمید هنگامه تر هرچا زیاته

ده دزړه د دفتر او مړی پاڼه ئې د مینی د سوز او
ګداز په مناجات غوړیږی او وائی:-

الهی د محبت سوز و ګداز را
په دا اور کی دستی سمندر ساز را

په عشق کی ښادی په اور کی راحت لټول دی دده
په نظر عشق توله اور دی نو څر ګنده شوه چی
پتنګ عاشق او بلبل تن پرور دی . حمید بلبل ته
ځکه تن پرور وائی او د پتنګ غوندی اور او سره
لمبه غواړی، او داسی وائی:-

تن پرور بلبل دی عیش کاندی په ګلو
پروانه غوندی په اور ماله ګداز را

یو بل ځای هم دغسی غوښتنه په بل عبارت کوی:-

چی دی نوم په غوږو واورم سره لمبه شم
هومره سوز را کښی پیدا کړې زمار به

حمید عشق داور لمبه بولی:-

نور څه نه ده عاشقی هومره پوهیږم
چی لمبه داور په نام د عشق نو مړی

حمید واقعی د عشق په بازار ګډیږی او د شمع په
شان د سرښندل پدې لار کی بها بولی .

عاشقی ده واقعی د سود سودا
ځکه سرور کوی شمع په خندا
چی بازه شی سر و مال په عاشقی کی
دا سودا ده دغه سود اره پیدا

داسی معلومیږی چی د حمید او خوشحال د عشق
تو پیر ډیر سته او هر یو په جلا جلا اندازه سره
غواړی خوشحال داسی وائی:-

عشقه ته تر اورنګ زیب پاچا بهتر ئې
چی خوشحال دی په دنیا کی سر بلند کړ

مګر حمید خپل عشق ته د رښتینی عشق خطاب کوی
او د هر علم استاد ئې بولی .

د حمید رښتینی عشقه
په هر علم کی استاده

د شاه ګدا د قصې په سر کړ وائی:-

چی رښتینی محبت د چا رهبر شی
په عنقا باندی ئې لاس د نیوو بر شی
مقدم چی ئې په مینه کی قدم شی
مکرم په دا سبب بنی ادم شی
چی ور پېښ د محبت اړو پیچ نه دی
که پادشاه وی هیڅ ئې مه ګڼه هیڅ نه دی

ژوندون توله سرګردانی ده او په تېره بیا د ژوندون
د اضطراب څنګه یو حقیقی مثال راوړی:-

بې مرګه ارام لکه پاره په عشق کی نسته
یم به څو ژوندی یم همېشه په تزلزل

داسی وائی چی عشق او محبت د انسان سره یو ځای
جهان ته راغلی دی، دا دنیا له عشقه پیدا شوی نو
ځکه دی هم عشق او محبت په خپله خټه کی اخښلی
بولی .

لا هاله حمید ککړ په محبت ؤ
فرښتو چی ساز اوه په ترتیب ورو ورو

پریشانی او غم د عشق طبیعی صفتونه دی او عاشق په
هر حال کی د تزلزل او حرکت څخه خالی نه دی
نه په وصل کی ارام مومی او نه په فراق کی لکه
چی وائی :-

نه له تا سره سهیږم نه بې تا
مبتلا دی کړم په څه بلا بتا

په تولو کائناتو کی د زړه د غم د قراری د پاره د
خپل محبوب څخه بل څه نه وینی .

تماشا د گلشن څه کوم بې تا
یاسمین وسمن څه کوم بې تا

ته زما سترگی لېمه چی ته نه ئې
ننداره د چمن څه کوم بې تا

هیڅرك نه غواړی فردوس بېله دیداره
کورو کلی وطن څه کوم بې تا

سوی ناري، دغم اهو نه دزخمی زړو کار دی
له روغو زړو څخه دا امید غلط کار دی

وېرژړلی ناري کله په روغ زړه شی
د بلبلو ناري مه غواړه له زاغه

حمید په اخلاقی او اجتماعی خواؤ کی هم کله کله څه ویلی دی. د اخلاقو په درس کی د حرامو غندنه په څومره حقیقی صورت اظهار وی.

که څوك نه پټوی سترگی په حرامو
شی په پښو کی پېژندة پردی پښه

د احسان تبلیغ په څنگه رنگ او لباس کی راولی.

چی د اوسینی ځنځیر شلوی په گوتو
هغه دیو په او مه تار د احسان نښلی

د حمید دغه لاندی بیتونه که څه هم دوه نیم سوه کاله دمخه ویل شویدی مگر د اوسنی زمانې د حال سره برابر دی او سړی داسی خیال کوی چی گوندی د اوسنی زمانې کوم شاعر ویلی وی.

حمید د انتقاد میدان ته په څومره تیزی او متانت داخلیږی او هغه څوك چی د پردیو پر حقو قو باندی تېری کوی داسی ئې غندی:-

حق بینی ته لکه سویه
غټی سترگی ځان ویده کړی

اوس غواړم چی د حمید د ناز کخیالی او ښې وینا ؤ څخه یو څو مثاله راوړم.

وگوری، چی دی کښی ئې له څومره لوړ تخیل څخه کار اخستی دی.

دا زما له غمه شین زړه پکښی خیال د یار د شونډو هسی رنگ زیب و زینت کا لکه می په شنه پیاله کی د یار د پټو سترگو مشق ته متوجه کېږی او وائی:-

واړه مشق د خونریزی کړی در پوهېږم
دا چی پټی سترگی ناست ئې لکه باز

زړه د وینو فواره او مځکه د غم زانگو بولی.

خونخور د یار راغی تماشو له
که می زړه ورته د وینو فواره کړ

په هر ځای کی ناست ولاړ زانگم له غمه
مینی مخ راته د مځکی گهواره کړ

د نسیم څخه یو شاعرانه خواهش کوی او وائی:-

چی می یار له خو به وینې نه کړی نسیمه
گوره الوزه په ورو په تلطف

زړه یار ځنی وړی دی او خپل ځانته داسی تسلی ور کوی:-

وړی زړه په تلوار مه غواړه له ښکلو
و وطن و ته رسیږی غریب ورو، ورو

تول پښتانه د پښتون والی په روح ژوندی دی پدې لاندی بیتو کی د پښتونوالی روح، د بل ناموس ساتل او پت پالل بیانوی:-

چی د بل ننگ او ناموس ساتلی نه شی
و به نه ساتی خپل ننگ او ناموس

پروت په وینو کی لت پت ښه یم په پت کی
نه د سرو زرو په تخت باندی بی پته

[د حمید آثار] هغه اثار چی موږ ته معلوم دی. یو دده دیوان دی دا دیوان د خوږمن او له درده ډك زړه توټې دی چی په ادبی جرگو کی د حمید په

درومرجان سره یادیږی . بل اثر ئې د شاه گدا قصه ده چې هغه ئې په فارسي لیکلی وه . دریم اثر ئې د محمد اکرم د نیرنگ عشق پښتو ترجمه ده چې د عزیر او شاهد قصه ده او د حمید طبعي قوت او اقتدار ځنې څرگندیږی . دا دواړه کتابونه ئې له فارسي څخه ترجمه کړیدی . د نیرنگ عشق د دې لاندې بیتو څخه معلومیږی چې ده په مثنوي کې پوره لاس او قوت درلود . له دې سببه حق لري چې د جامي او نظامي په ډله کې وشمېرل شي . هغه بیتونه دادي :-

ماچې و پېل دا در په باریکی
غوږو ور کړی یو له بل مبارکی
چې داب سره هوائي شوه ولاړه
د یاقوتو له بازاره گرمي ولاړه
بل سره نسته دا رنگ در گرامی
مگر یافت شي په دکان د نظامی
که څوك غواړی دا شراب حیرت انجام
مونده کېږی د جامي په ښکلي جام
شعر نه دی دا خوناب د زخمي زړه دی
یا وتلی دستي دم له خولې د مړه دی
یا نغمه د نیم بسمل مرغه د خولې ده
یا مجنون ته معمي ښکلي لیلی ده
یا دوینو ابا سیند وهلی موج دی
یا له ښاره د حیرت وتلی فوج دی
څو وهی د فکر زامي باندی شخوند
زیا نوی زما خبری هومره خوند

حمید د عمر په اخری برخه کی د شرعة الاسلام نومی یو کتاب هم په پښتو نظم ترجمه کړیدی . چې نژدې پنځلس زره بیته کېږی . دغه کتاب په اصل کی په عربي لیکلی شوی او مؤلف ئې د بخارا مفتي بن ابی بکر الحنفي ؤ . د دې کتاب ترجمه په ۱۱۴۸ هـ کی ختمه شوېده نو بدې اساس د حمید د ژوند زمانه تر دغی سنې پوری رسیږی . شرعة الاسلام په لنډه مثنوي لیکل شویدی او د سرڅو بیتونه ئې دادی :-

حمدو شکر دی بې حده
تا لره خدایه احده
دم قدم مي ستا توفیق
په دا لار کی شو رفیق
راته تا کړ په احسان
دا مشکل منزل اسان

د شرعة الاسلام دغه پښتو قلمي نسخه ښاغلی عبدالشکور «رشاد» موندلې ده او په ۱۳۳۸ کال کی ئې د وږمی په مجله کی یوه مقاله هم پر لیکلې ده . دغه لاندی غزل د نمونې په ډول راوړم :-

بیا د مینی نوی خیال شو راته پېښ
تاخت و باخت و سر و مال شو راته پېښ
چې مېچن ور ځنی تښتی په کیر ځی کی
په دوستی ها سی حال شو راته پېښ
چې مي غوندی لړمون په وینو ډك شو
د سرو شونډو انفعال شو راته پېښ
په یوه سودائي نه یم سودمن کړی
محبت ساده دل شو راته پېښ
ځان جهان مي واړه وواته له فکره
چې مي فکر د وصال شو راته پېښ
سور چینیان بو به د حال عبدالحمیده
درد سر و قیل و قال شو راته پېښ

«نور په ۲۰ مخ کی»

د مرحوم مولوی صالح محمد اثر

په قفس کی بلبل
یا
د بلبل ژړا

یو سحر زما تر غوږ سوه له بلبله — په قفس کی ئې ژړل دائې ویله
چی بندی شوم د صیاد له سخته دله — ولی نه پوښتی څوک حال زما یو له بله

ولی نسته بې فغانه کارو بار زما
ولی حبس ابدی راغی په وار زما

نه محرم چی د زړه حال ورته بیان کړم — نه می وس چی خبر دارۀ بلبلان کړم
نه ملګری چی چمن ته ئې روان کړم — بیا بیان ورته د ګل او د ریحان کړم

خپل دک زړه دار مانو ورته خالی کړم
تول مرغان د چمنو په ځان حالی کړم

چاته وژاړم پر چا باندی فریاد کړم — چاته خاوری پر خپل سر باندی باد باد کړم
چاته وګورم په څه شی زړه ګی ښاد کړم — د صیاد له لاسه چاته عرض وداد کړم

څه را وسوه چی د تور قفس بندی شوم
نه خلاصیږم په دا بند کی ابدی شوم

ولی زه له خپله سیله راجلا شوم — ولی زه د خپل وطنه را جدا شوم
ولی زه په ویراخته په واویلا شوم — کورو کلی می سو پاته خوار تنها شوم

کم ظالم کړمه بندی خدای دی بندی کړی
خدای دی ماغوندی اخته په جدائی کړی

اوس به زه لکه ها نور په هوا تلمه — په هوس د آزادۍ به نازیدمه
پر غنچو به د ګلانو مسیدمه — روځ په روځ به غوړیدمه لویدمه

« د ۱۹ مخ پاته »

په دغه مقاله کی د ښاغلی رښتین صاحب د پښتو د ادبیاتو د تاریخ څخه او دده له نوټ څخه او دغه رنګه د رحمان بابا د دیوان، او د ماشوخیل له دیوان څخه استفاده شویده .

چا بندی کړم خدایه ئې په ځان اخته کړي
په قفس ئې د زندان ځګر سوخته کړي

اوس به ګرځېدم آزاد په چمنو کی — الوتم به په صحرا او په باغو کی
مست به ګرځېدم خوشحال په شګوفو کی — ولی اوس یم په غمو په اندېښنو کی

چی بندی دی د قفس کړمه صیاده
خدای دی ماغوندی بندی که ای آزاده!

الغرض چی ده وهلی دا ناري — د قفس له لاسه وه په غلبلې
چی ناګه د چمن باد راغیء د کښی — چی پرونښت دائې وواته له خولې:

مګر دا باد د چمن له خوا راغلی
چی ئې زما صبر و آرام راڅخه وړی

اوس بیا ګل او پسرلی هغه بهار دی — د نرګس او شګوفو ګرم بازار دی
د طوطیانو په ګلشن کی چنهار دی — په چمن کی د بلبلو چغهار دی

پر ګلانو الوته کا په خندا
زه بندی یم د قفس او په ژړا

زړه مې ډک دی سره چوی د ارمانه — خدایه ژر می خلاصوی له دې زندانه
نور می مه پرېږدې بدې ځای کی سبحانه! — بیا می ورسوې ژر ترخپل بوستانه

که دی زه یمه قفس ته پیدا کړی
بیا وزر دی ولی ماته دی را کړی

څو تر څو به یم بدې جور و ستم کی — څو تر څو به یم په آه په الم کی
څو تر څو به په ژړا یم او په غم کی — څو تر څو به یمه دا رنګ په ماتم کی

چی امید می د خلاصی نشته هیڅ کله
نو بهتر دی مرګ تر دې ژوند یو په سله

بیا نو چپ شو یو ساعت په تامل شو — زما خیال دا سو چی د غم په تحمل شو
بیا ئې ناري کړه همرازه د سور ګل شو — ویلی: آه چی د صیاد لا تغافل شو

ځان که مړ چی د ذلته نجات مومې
په ګوښه کی د عدم به حیات مومې

یو ساعت متفکر و حیران پاته — نه ئې شکر و شکایت کاوه و چاته
چی بیا باد د چمن راغی دده خوانه — آه ئې و کیښ عرض ئې و کی خپل مولاته

لکه زه هسی بندی شی ای صیاده!
د وطن په جدائی شی نامراده

زه چی فخر د چمن زیب د بوستان وم
نغمه خوان د خپلی ځالی او اشیان وم
د باغو د ښو باغچو روح روان وم
د سرو گلو پر ښاخو به ثناخوان وم

د فولادو په پنجه کی دی بندی کړم
د هر کس و د نا کس دی ریشخندی کړم

زه به تل د باغ پر سر ښه په هوا وم
ښاخ پر ښاخ به بیا په څه ناز و ادا وم
د گلانو پر سرو به په خندا وم
په ځالی کی به وم ناست یا په صحرا وم

نه بندی وم د قفس نه می هیڅ غم ؤ
نه می اوښکی بهیدی نه می ماتم ؤ

چی سحر به زه له ځالی په هوا شوم
په گلشن کی به د عشق نغمه سرا شوم
چی له ښاخه به پر گل باندی راتا شوم
یاسمن و یاسمین ته به گویا شوم

آیا څوك اری دا عیش و عشرت نن زما
چی ندیم و گل خانه ده په چمن زما

که څه نه دی ښه و ماته په داشان مرگ
ولی ځوان یم او د ځوان وی دارمان مرگ
خو د ژوند د پاره ښه دی ناگهان مرگ
په هزار ځله بهتر دی تر زندان مرگ

چی دا هر سهار خپل مرگ په قفس وینم
ولی نه مرم چی به بیا زه قفس وینم؟

په حسرت او په افسوس ئی دا ویله
و گلشن ته ئی کتل بیا ئی ژړله
د قفس و دروازی ته ئی ځغستله
لاری نه وه و زرونی سر پوله

په هوا شو سر ئی و نښت له قفسه
وینی توی شوی سوړ پوړ ولو بد له هوسه

سر تر پایه په سرو وینو کی غرقاب ؤ
ځان بایللی زړه زخمی حال ئی خراب ؤ
بیا بیهوښه یا پرهوښ په اضطراب ؤ
چی پرهوښ به سو گویا نه په دا باب ؤ

سر می بایلود په هوا د آزادی
شکر شکر شوم فدا د آزادی

«ویران»

ښاغلی حاجی عبدالغفور «خروټی»

حاجی عبدالغفور «خروټی» چی په کندهار کی په شیخ صاحب شهرت لری د مرحوم حاجی عبدالستار زوی د کندهار په اوسنۍ لومړی ناحیه کی زوکړی دی د مروج علومو تحصیل ئې په خصوصی توګه کړی دی.

نوموړی د پښتو یو سابقه لرونکی او پوخ لیکونکی د ښو نظریاتو او ښه فکر څښتن دی. طبیعت ئې بالکل شاعرانه دی، څوک چی تماس ورسره ولری هغه به د اصفات هم پکښی ومومی چی نوموړی آرام، خنده رویه او د ښه طبیعت خاوند، خوش اخلاقه د ښې عقیدې درلوونکی او پر پښتو ټینګ سړی دی، اوس چی ئې عمر ۶۰ کالو ته رسیږی بیا هم ځوان معلومیږی او ناسته ؤ ولاړه ئې ډیر ځله د ځوانانو سره وی، د شیخ صاحب د ژوند دریمه برخه په جلاوطنی او د هندوستان او عربستان په سفر کی تېره سوېده، هغه وخت ئې پېشه تجارت وه، ۲۵ کاله پخوا چی په کندهار کی ادبی انجمن جوړ سو، نوموړی ئې په غړیتوب کی هم برخه درلوده او د هغه وخت په پښتو مجله کی ئې ډېر مضامین خپاره سوېدی په طلوع افغان، کابل مجله او ځینو مستقلو خپرونو کی ئې هم خواږه نکلونه او مضامین موندلای سو دا قلمی همکاری ئې حتی د خپلو اوږدو سفرو په دوران کی هم نده دریغ کړی او د هغو لیرو ملکو څخه به ئې د خپل هیواد جرائدو ته مقالې او ښې ترجمې رااستولې د پښتو په مجله کی چی د مشاهیرو یوه سلسله خپره سوېده همداسی په طلوع افغان کی ډېر کلونه د مخه چی د ځینو شاعرانو او د کندهار د علماؤ سوانح خپره سوېده هغه د دوی په قلم وه، پرته له دې ئې د [پښتو لیک] پنامه یو کتاب او هم ئې [سیرنبوی ﷺ پنځمی ټولګی د پاره لیکلی دی] همداسی د [تربیت وطنی] او [مدنیت اسلام] پنامه کتابونه ئې پښتو ته رااړولې دی.

نوموړی په عربی، اردو او پارسی ژبو پوهیږی او استفاده ځنی کولای شی شیخ صاحب پسله هغه چی تجارت ئې څه مده پرېښود نو د کندهار د ښاروالی وکیل ورپسې د ملی شورا په اتمه دوره کی د کندهار د مرکز له خوا په وکالت وټاکل سو، د هغې دورې تر بشپړ کېدو وروسته ئې بیرته په تجارت ځان مصروف کړیدی.

دا چی شیخ صاحب مو د ښو نظریاتو څښتن وباله نو پدې سلسله کی د پښتونستان د نهضت په لومړنیو ورځو کی چی د پښتونستان نوم [پټانستان] ؤ دوی په طلوع افغان کی د یوې مقالې په ترڅ کی پېشنهاد وکړ چی باید د [پټانستان] نوم په پښتونستان واوړی او دا نوم د پښتونستان د سیاسی ټولنو

له خواهم سمدستی ومنل سو.
ښاغلی شیخ صاحب په عین حال
کی چی ښه شاعرانه طبع لری
په اثارو کی ئی کله کله ظرافت
هم موندلای سو مثلاً وائی:-
د تپوس څخه پوښتنه وسوه چی
دا مرداری ولی خوری؟ ده
وویل چی صرف پدی وجه چی
مشوکه، منګولی او نور بدن
می دغسی جوړ سوی دی چی
باید مرداری وخورم.
سړی ورته وویل: که څه هم عذر
دی معقول دی لیکن پدی نو ته
خوامه بده وه چی مردار خور
دی وبولو.
د شیخ صاحب مضامین توله د
نثر په شکل دی کوم منظوم
اثر ئی تراوسه نه دی لیدل سوی.
لاندنی څو توتی چی ډیر کلونه
پخوا په طلوع افغان کی چاپ
سوی دی په دوی اړه لری.

[۱]

لیونی

سپین ږیرو به ویل: پخوا یو
سړی ؤ چی تولو خلکو به لیونی
باله او دده پر لیونتوب چا
انکار نه درلود، دی لدی جهته په
لیونتوب نه ؤ مشهور سوی چی
ده برتی خبری کولی او یا به ئی
ډبری وبشتلی، روغ کالی او
سمی خبری ئی وی لیکن دونه ؤ
چی نن به ئی هر څه وګټل
خپل ضروریات به ئی په رانیول
او پاته روپۍ به ئی په اور کی
وسوځلی، سبا به بیا په خپله
خواری لګیاؤ، دوستانو چی به
هر څه نصیحت ورته کاوه فائده
ئی نه کوله، ده به سهار په
سهار خپلی روپۍ سوځلی په
آخر کی هرچا لیونی باله او
په توله ښار کی په لیونتوب
سره مشهور سو او رشتیا هم
لیونی ؤ چی په زحمت ګټلی
روپۍ ئی په اور کی سوځلی!
یو وخت د دباندی څخه یو
د اقتصادیاتو فارغ التحصیل
راغلی ؤ چی د ملک په اقتصادی
چارو کی په خورا کوښښ
اخته ؤ. په راډیو، اخبارو، او
اعلانو کی به ئی تل وخلکو ته
اقتصادی هدایتونه خپرول او
د ملک حقیقی ژوند ئی په
اقتصادپوری تړلی باله. نو ددی
لیونی بیان چا ورته وکی چی
یو سړی دی په زحمت او
خواری روپۍ وګټی بیا ئی
په اور کی سوځی ده ډیر تعجب
وکی او ددی لیونی د لیدلو
دپاره په خپله راره سو، چی
دا څنګه لیونتوب دی. د سهار
پر وخت متخصص دده کره راغی
ده ئی په عزت سره استقبال
وکی د چایو او ډوډۍ ست ئی
هم ورته وکی، متخصص ورته
وویل چی: نور تکلیف نه در کوم
وماته فقط یوه قطۍ سګریټ
راوړه، ده سګریټ ورته راووړ
او په ښه اهلیت سره ئی مجلس
ور سره وکی کوم وخت چی
دده د خواری وخت سو
متخصص ته ئی وویل: زما د
خواری وخت دی مهربانی
وکړه راځه چی ځو.
متخصص وویل چی: ماته خو
چا ویلی وه چی دی داسی
لیونتوب لری چی سهار په سهار
روپۍ سوځی، نن خو دی نه
روپۍ وسوځلی او نه دی
لیونتوب وکی.
ده ومسل او ورته وئی ویل:
هغه لیونتوب خو نن تا وکی نو
لدی جهته ما پریښود.
متخصص په ډیر تعجب او تکبر
سره وویل: زه او لیونتوب؟!
ده وویل: صاحبه! ما به هر
سهار پنځه روپۍ سوځلی
نن می د هغو پنځو روپو
سګریټ رانیول چی تا وسوځل

[نور په ۲۶ مخ کی]

علمی :



ستوری

د نجوم [استرونومی] علم چې خورا قدیم تاریخ لري وخت په وخت ئې تحول کړی او دهغه د ترقۍ په وسیله ئې دادي بشر اسمانی جزایرو (ستورو) ته په سفر پیل کوی دالو شنه فضا چې د ورځې د پوشین سمندر په ډول اودشپې په ځلاندو ستورو د کهکشانونو کې خلا ده چې ترشپږ وتلی لوی او واره ستوری پکښې ځای سوی اوتر یوې دقیقې محاسبې لاندې هر یو پر خپل مدار حرکت لري هغه سپینه لار چې څوک ئې د اسمان چاره او څرک ئې د سپیدولار بولي ددې زرګونو کلو په ترڅ کې د انسانانو په افکارو کې په بېل بېل شکل ځای نیولی دی . بلې خوانه را نول شوی چې د رڼا اه کاس ئې هغه د یوې سپینې اوږدې ځې په شکل اړولې ده . دهغو ورو ستیو تحقیقاتو له مخې چې د [استرونومی] علماؤ دلو یوتلسکوپو او نورو نوی وسایلو په ذریعه کړیدی تر اوسه ئې درې زره د کهکشانو لاری کشف کړی او دیوې علمی فرضیې پر اساس موږ نه تر تولو راتړدې کهکشان پر دومره مسافه اوږد واقع دی، چې رڼا (نور) ئې په ۸۵۰ زره کاله کې را رسیږی او لیری ئې ۱۴۰ ملیونه [نوری کلونه] زموږ څخه لیری دی .

دلته په نو بد نه وی چې یو ځل د نور له چټکتیا څخه هم خبر سی . نور په یوه ثانیه کې ۳۰۰ زره کیلومتره فاصله طی کړی او بدې خلا کې د پېر داسی ستوری سته چې نور ئې د مځکې خوانه را ایله سوی پسله ملیونو کلو څخه مځکې ته را رسیدلی دی خو وهغه ستوری وخت لا خپل عمر له لاسه ور کړی او په فضا کې متلاشی سویدی .

دعلمی وېش له مخې بدې اوره براختیا کې یو ډول ستوری ثوابت او میږی چې له ځان څخه رڼا ور کوی او دوهمه بېرخه سیارات دی چې د ځانه رڼا نلری بلکه د ثوابتو څخه رڼا اخلی او دهغو پر مدار په معین وخت کې راځرخی .

د دې مثال پسه لمر او زموږ مځکه ونیسو . لمر ثابت دی او مځکه یوه سیاره ده او د مځکې په ډول نور سیارات هم سته چې پر دغه لمر راځرخی چې زموږ مځکه ئې رڼا کړیده او دې ته نو شمسی نظام وائی .

[نور په ۲۶ مخ کې]

«د ۲۵ مخ پاتهه برخه»

همدا ډول لکه زموږ شمسي نظام په کروړو نو نظامونه هم سته چې پرځینو نورو او پرځینو خورا ډېر ستوري راځرخي.

پخپله دا ثوابت هم حرکت لري خو دا څرخ ئې پر بل یوه نه وي بلکه پر ځان ئې دی. خو سیارات دوه ډوله څرخ لري: یو داچې پر ځان راځرخي بل داچې پر نورو ستو کرزي. لکه مځکه چې پر ځان راځرخي او دهغه څخه شپه او ورځ پیدا کېږي او چې پر لمر راځرخي نو د کال موسمونه ځنې پیدا کېږي. د سیارانو د ځرخېدل هم د لمر په فاصله کې د خپل موقعیت په لحاظ توپیر لري. همدغه ډول ددې سیاراتو لیري والی او نژدې والی د لمر په نسبت د ژوندیو شیانو په پیدایښت کې تاثیر لري.

پرهر هغه ځای چې د شرایطو سره برابر واقع شوی وي مثلاً د لمر رڼا او حرارت برابر ور رسیږي نو هلته ژوندموجودېدلای شي او که لمر نه ډېر ور نژدې یا لیرې وي نو هلته د ډېرې ګرمۍ یا یخې یخ څخه ژوندي پیدا کېدلای، زموږ مځکه د لمر په مخ کې پرته ځای واقع ده او مځکه ژوند یکښې شته، همدغه ډول علمي فرضیې داهم وائي چې په ډېر یخ کې به هم ژوندي وي. ولې په مشتري کې چې لمر نه ډېره نژدې ده ژوندي کېدلای. داؤ دستورو په باره کې یو لنډ معلومات.

[دغروال ژباړه]

د یوهانو نظریه:

وجدان

اې فضیلتمنا نه بېله د خبرو په عالم کې، بل ځای وجود نلري.

[پروتوس]

با اخلاقه وګړی تل د پاک وجدان څښتنان دی.

[اسمایلز]

هغه خوک چې په هر کار کې د خپل وجدان تابع وي، هیڅ وخت نه ستړی کېږي او نه ژوند څخه نه غمګینه او خواشینی کېږي.

[پیکن]

وجدان تل حقیقت خلق کوي. [کې ارکګار]

[د ۲٤ مخ پاتهه برخه]

اپکن تاسي زموږ سوځل لپونتوب بوا ـ ـ ـ ه او خپل دا [فپشن] ا.

[۳]

د شګوفې وداع

زه بـ ـ ـ ـ ه هیڅکله ستا د وداع ساعت هېر نه کړم او تـ ـ ـ ـ ل بې یـ ـ ـ ـ ادوم ولې چې ستا د وداع ساعت نـ ـ ـ ـ ه د اوښکو او نه د حرمان یاد دی بلکه د ګلو د باران یاد دی.

هغه ساعت به هېر نه کړم چې ښکلا دی د سپین لباسه وتل او به خپل شنه لباس کې لوېدل، ستا ژوند وماته دهغه ژوند سبق دی چې په شرف سره شروع سي او به شرف بشپړ سي.

هر کله بیا به خوښې ؤ شرف راسي، اې د ژوند د موسم فاتحې! چې غوږ یـ ـ ـ ـ ده دی خندا وه او رژېده دی ښکلا.

ښاغلی پاڼینو

«چه» ولیکو ـ که «چی» ؟

ښـاغلو .....

په «اصلاح» کی چی مو [زموږ ژبی] نه د اصلاح له پاره برخه ورکړېده، ډېر دقدر وړ کار دی.. ولی پرځای ددې چی په پښتو کی جنجالی مسئلې ورځ به ورځ ډېری سی، ښه به داوی چی هر څوك دخپلی ژبنۍ پوهی له مخی څخه پر وږغیږی اوچاره ئې وکړی.

۱- لومړنۍ جنجالی موضوع چی په اصلاح کی بحث پر سوی دی، هغه د [چه] او [چی] لیکنه ده. په کندهار کی ئې دوهم صورت، پسله څو مجلسو څخه غوره بلل سوی دی. داځکه چی یو خو پر تلفظ برابر دی او بل ئې په ژبه کی کومه منفی اغیزه نه ښندله. یعنی اشتباه او التباس ئې نه پېښاوه

[الف] مګر ښاغلی خادم په اصلاح کی نور څه پرې لیکلی دی، او د «چه ـ چی» پر موضوع سر بېره د پښتو لیکنی پر تاریخ او سرنوشت باندی هم ږغېدلی دی مثلا لیکی چی: «.. پښتو د عربی په خط تر فارسی ډېره وروسته لیکل سوېده...» مګر ددغی خبری دحمایې او اثبات له پاره ئې دلیل نش بو روایت راوړی دی. خو که موږ لږ څه فکر وکو او یو څو کوچنۍ پوښتنی و پوښتو؛ نو به موضوع پخپله او ښه تره څرګنده سی، داسی چی داسلام په ابتداء کی، ولې، پر افغانستان او یا خصوصاً پر غور او شاوخوا باندی ئې چا حکومت کاوه؟

آیا امیر پولاد او امیر کروړ پخپلو دربارو کی له کومه ؛ خطه څخه کار اخستی؟ دغه خط په خروښتی ؤ او که به ئې هیڅ نه درلودی؟؟

په هره توګه، که څوك و پورتنیو پوښتنو ته مخالف جوابونه ورکړی، نو هاله بیا د سوری کوړنۍ پر خط باندی ږغېدنه یوه بېله لیکنه غواړی او که دغه سوالې یادونی کفایت کوی.

[ب] نه پوهېږم چی په عربی رسم الخط کی د پښتو یا فارسی دمخه والی پر «چه» او «چی» یا نورو املائی موضوعاتو باندی څه اغیزه لری؟ یعنی مطلب او مقصد ځنی څه ؤ؟

۲- په نوموړی مقاله کی لیکل سوی دی «پښتو که خپل کوم فونټیك خط درلودی نو قوی احتمال دادی چی دغه خط به «خروشتی» ؤ، چی په دغو رختو کی د پښتنو د کلچر د مدافعینو د هډو کو سره خاوری سوی ؤ.

الف- لومړی خروشتی د پښتو خط کېدل خورا مهمه موضوع ده، نو که څوك داسی نظریه ولری باید هغه ثابته کړای سی ولی چی تشه احتمالی یادونه ئې د لوستونکو لوهه او تنده نه ورماتوی حتی په دغه باره کی ډېری داسی پوښتنی ورته پیدا کېږی چی: دغه خط کله موجود ؤ؟ څرنګه خط ؤ؟ چیری او له کومه پیدا سوی ؤ؟ ولی د پښتو خط ګڼل کېږی؟ مګر که ئې دیـوې احتمالی

عقیدې په توګه صرف یادونه وسي نو هغه وخت به دغه کوم عامي ارزښت ونه لري .

ب. بله مهمه یادونه دفونتیک د کلمې استعمال دی چې تاسي ئې په بوزنې راتقل سوي عبارت کې لیدلای سي .

مطلب دا چې د خروښتې یا د خروستهي اصلاً خروشتهي، خط یا د پښتو مروجه خط یو فونتیک خط بلنه هیڅ دمنلوور نه ده ځکه چې موږ د هیڅ یوې اوسنې ژبې لپاره لا داسې فونتیک خط نه لرو چې به ورڅخه لیکنو کې دې کار څخه واخستل سي او پخوانې ژبې خولاها خوانه پرېږدي، دالاڅه حتي فونیمیک خط هم د هر ژبې لپاره نسته .

۳- ښاغلي لیکوالګې ودغه د پښتو اوسنې عربي رسم الخط نه، د انګلیسي پر لاتیني خط باندې ترجیح ورکوي اوداسې کاږي چې: « پښتو په دغه موجوده خط سره دلیکلو له حیثه دمشکلاتو سره مخامخ ده . مګر دا مشکلات دومره نه دي لکه انګریزي نه چې د لاتین د خط په لیکلو کې وربېش ي. یعنې که پښتو بدې موجوده خط کې د انګریزي د موجوده خط سره مقایسه کړو، نو د پښتو بدې خط سره زده کړه او اوستل د انګریزي دهغې زده کړې او اوستلو څخه چې د هغې پخپل خط کې کېږي، ډېر آسان کار دي .

الف: د انګلیسانو موجوده خط د دوی د محافظه کارۍ « بوخر کند مثل دي » ولې چې دغه د اوسنې خط انګلیسي ئې، نو نه د انګلیسي نه ده . بلکه پخوانې ده مثلاً: ثات، آفن، نایف، پخوا دغسې ثاغت، آفتن، کنایف .. ویل کېدل . مګر ان د پخوا په شان لیکل کېږي، ولې ویل کېږي: ثات آفن، نایف... انګلیسان اوس هم پردي، نیمګړې دي چې باید به املا کې تغییر راوستل سي، مګر اتاز و نیوال بیا د دوی غوښتنې فکر نه کوي او هغوی به ځینې هغو کلمانو کې چې کومه اشتباه او التباس نه پېښوي، تغییر راوستلی دي مثلاً کانکشن، تیتر، کلر او نور داسې اوس د کنکشن تیتر، کلر په توګه کاږي .

په هرصورت خو ځینې انګلیسي کلمې لکه ... کام، پلا، نایت غوندې کښل د لاتیني خط ګناه نه ده، لکه ښاغلي لیکوالګې چې لاس پورې نیولې دي . ځکه چې دغسې اولې کلمې به داغه خط هغسې کښل کېدای سي لکه ویل کېږي چې مثلاً ... Nite,Plaw,Cam اوس نو تاسي ووایاست چې آیا نقص چیرې دي؟ په خط کې که په خلکو کې؟

ب: دا چې په زده کړه او اوستنه کې هم پښتو د عربي خط له مخې څخه نرا انګلیسي غوره او آسانه بلل سوې ده، نو زه پخپل وار سره واضحاً دا لیکم چې دغه ترجیح او خوښې بې واقعیته ده . مثلاً په پښتو کې داسې ډېرې کلمې سته چې لیکل کېږي یو راز مګر وینګ او معناوي ئې سره بېلې دي لکه: « لري، لاره، کوچ ... » چې دغه لاندې تلفظونه او معناوي لري د « لري » کلمې لیکنې وینې او معناوي :-

۱- لري - لري Lari « دارد » لري « داري » Lare ؛ لري « دارید » Laray .

۲- لري « شکمبه » .

۳- لري « لیري، دور » .

٤- لري « کښتي، له، لر، څخه » .

۵- لری «شکست، ماته».

د «لاره» کلمې لیکنی، لوستنی او معناوی:-

۱- لاره Laara آهنگ، سرود، نغمه.

۲- لاره Laara میداشت.

۳- لاره Laara توسط داس «له «لور» څخه»

٤- لاره Laara راه.

د «کوچ» کلمې کښنی، لوستنی او معناوی:-

۱- کوچ Kwoch کوچی، مسکه.

۲- کوچ Kawch میان تهی، خالی.

۳- کوچ Kuch دسپی لپاره.

٤- کوچ Koach نقل مکان.

دغه راز کلمې په پښتو کی خورا ډیری دی او د خپل قناعت د حاصلولو لپاره کولای سی چی د ښاغلي حبیبی د «پښتو متشابهات» مضمون وګوری چی ترمخه د اصلاح په ورځپاڼه کی خپور سوی دی. مګر په انګلیسی کی ئې موږ لږ مثالونه هم نه سو پیدا کولای چی په هغو کی دی څو داسی کلمې چی مختلف تلفظونه او بیلی معناوی ولری یو شانی و کښل سی، لکه په پښتو کی چی کښل کېږی.

ج: په انګلیسی کی اوږده او لنډ و اولی اشکال دواړه سته که څه هم په کښنه کی بسیط وی یا ترکیبی. مګر په پښتو کی خودا ښکاره ده چی لنډ واولونه لکه: زور، زیر، زوره کی او بېش بشپړ نسته. خو څه چی اوږده واولونه دی هم پوره او داسی نه دی چی، تلفظ دی واضح وی. بل دا چی په پښتو کی د انګلیسی په شانی له واولی نخښو څخه داسی کوم ترکیبی صورت نسته چی یو بل واولی آواز دی معرفی کړی، که څه هم ډیفتانګ وی یا بسیط واول. دغه رنګه په پښتو کی د انګلیسی غوندی د سیمیو اولو (سیمی کانسو-نینټو) لپاره داسی نخښی نسته چی هغه دی له واولو څخه بیلی وی.

سربېره پردې چی د انګلیسی لاتینی الفابیټ د پښتو تر عربی الفباء ډېر سرلری، مګر بیا ئې هم پوره او بشپړ نه سو بللای ځکه چی دغه الفابیټ پخپله حتی د انګلیسی لپاره هم فونیمیک نه دی او فونټیک خو لا چیری. مګر که موږ له لاتینی خط څخه د انګلیسی اختصاص ایسته کو؛ نو بیا داسی ږغېدل چی لاتینی خط نارسا او د ژبی د لیکنی استعداد نه لری، ډېر لیری ایسی. ولی چی نننۍ لویی فونټیک الفباوی په لاتینی خط کی ترتیب سوی دی، چی ډېره مشهوره ئې بین المللی صوتی الفباء [IPA] ده.

٤- تر یوې اوږدې مقدمې وروسته د عنوان پر موضوع باندی یو څه کښل سوی دی چی پیره-ګراف ئې داسی پیل کېږی: «په خط کی مهم ټکی دا نه دی چی د کلمې دهری صوتی برخی دپاره دی یکی توری کټ مټ موجود وی. بلکه مهمه ئې داده چی دهری کلمې دپاره چی کوم نقش او تصویر موجود دی آیا دا تصویر خو د کوم بل تلفظ یعنی د بلی کلمې د اظهار احتمال نه لری؟»

الف. دا سمه خبره ده چی: په خط کی دا مهم ټکی نه دی چی دهری صوتی برخی او صوتی تغییر لپاره دی علامه یکی ایښوول سوی دی.

ولی چی د خط تراسانۍ ئې ګرانی (ترنکل ئې وپوهېدی) ډېر بیږی. لکه څونی چی دغه سمه

ایسې هغونې دا غلطه ایسې چې
پښتو ژبه کې دهرې صوتي برخې
او صوتي تغییرلپاره څخېنه نه
ایښوول څرنګې مهم ټکې
نه دي.

مطلب دا چې هره پېښه باید د
خپل موقعیت له مخې څخه
وفهمول سي که چیرې کومه
صوتي برخه یو کوم صوتي تغییر
د تفرق او پېژندنې وړ باید
نو نه یوازې تمیز و کړه
سي او که ئې مشکلات نه پېښول
او څه فرق ئې نه کاوه خو نو لا
پهره نو که.

ب- دلوړ رانقل سوي عبارت
دوهمه برخه چې ولیکونکې
نه اهمیت لري داده: باید یو
شکل، درو یا څو تلفظ او احتمال
ونه لري.

که څه هم بې پښتو کې دغه
احتمالات نسبتاً زیات دي مګر
د «چه» او «چې» لپاره ئې ذکر
بې ضرر ورنه ایسې ځکه چې
ددغې کلمې «ه» په «ی» سره
اړول د کوم بل تلفظ احتمال
نه پیدا کوي. یعنې د «چه» پر
ځای باندې «چې» کښېل خو
رمانه کوم بل راز وینګ نه را
په یاد وي او ښاغلي لیکونکې
ئې هم کوم ذکر نه دي کړي
او نتیجه ئې داده چې د «چه»
لیکل د «چې» په توګه څه
پروا نه لري ولې چې کوم نقص
نه وارد وي.

ج- لیکونکې بې له پورتنۍ
سوالیې بې متصل لیکي
[راغلو «چه» نه همدغه صورت
دهماغه بیانیه کلمې اظهار دي
چې د پښتو په ژبه کې مختلفې
لهجې لري، لکه «چې، چې، څې
څه، چه» که موږ وغواړو چه
کلمه پر فرتیک صورت برابره
کړو، نو مشکله ده چې یو
داسې صورت غوره کړو چې له
چکړو او چنجالونه وربانده
خلاص سو.]

د پښتو لیک له ورځنې جریانه
څخه خو داسې ښکاریږي چې
د «چه» مختلفې لهجوي شخړې
لا بخوادي چې زه هیڅ نه یم په
خبر فیصله سوي دي، او او سنۍ
شخړه یوازې د «چه» او «چې»
ترمنځ ده. نو نه پوهیږم چې
پورتنۍ یادونه او د «چې» د
مختلفو صورتو ذکر دځه لپاره
ؤ؟ آیا ددې لپاره ؤ چې که
«چه» د «چې» په توګه کښېل
کېږي نو هغه نسوري لهجې هم
باید نومورې «چې، څه څې...»
صورتونه راژوندي کړي؟

د کلاچیري «چې» د «چې»
په توګه وکښېل سي بعضې په
مجهوله «ی» نه د ښاغلي
لیکوال هغه خبره چې: «...
بلکه مهمه ئې داده چې دهرې
کلمې دپاره چې کوم نقش او
تصویر موجود دي، کوم بل تلفظ
یعنې دبلې کلمې د اظهار
احتمال خو نه لري؟» مناسبت
او واقعیت پیدا کوي. ولې چې
بې مجهوله «ی» نه د «چې»
کلمه ددوو کلمو «چه» او
«ئې» یو ترکیبي مخفف صورت
هم دي، چې په اشعارو او حتې
په محاوره کې هم ډېر
استعمالیږي.

زموږ لپاره یوه ډېره مهمه
وظیفه ژبه کې مطالعه ده او
بیلې ژبې پوهنې څخه به زموږ
دغسې هر کار کوم ارزښت ونه
لري مثلاً به یوه مجلس کې چې
د «چه» او «چې» پر موضوع
باندې خبرې روانې وي، یوه
سړی، چې هیڅ داشتراک توقع
نه څخې کېدله، به ډېر متانت
سره داسې وویل: [د مجلس
منظره او نرسیم].

تاسې اوس پدغه «چه» څه کړی
چې ځینې وایاست په «ی»
به ئې کاږو او څوک بیا پردې

باندې تینګښت پاسته چې به؟ په «ه» دې وي ؟

ښه نو... صاحب! تاسې څه پوهېږئ وایاست، چې بسایاد څرنګه دی ؟

څرنګه ئې داسې ده چې ځای ځای به ئې په «ه» سره کاږو او ځای ځای به ئې په «ی» سره؟

[هېښتیا او تبسم] څرنګه؟ یعنې چیرې به ئې په «ه» کاږو او چیرې به ئې په «ی» سره! په «ه» به ئې په هغو کلمو کې کاږو چې هغه په «ی» سره نه کېږي او په «ی» هلته چې په «ه» سره نه راځي؟

[هېښتیا او اندېښنې..] مثلاً په څه راز کلمو کې ؟

پداسې کلمو کې به ئې په «ه» سره کاږو، لکه: غوچه، مچه، خوچه، بچه، کوچه، تربوچه، الوچه ...

[چکچکې او خندا..] ډېر ښه صاحب! په «ی» به ئې چیرې کاږو ؟

دغه پسې کلمې به ئې ولې په «ی» سره کاږو، مثلاً: چیرې، کوچې، لاچې، چینار، چیچې، کروچې، [وهوا، چکچکې...] څه ښه بې طرفه فیصله، چې د هیچا به ګټه نه ده.

بوه نفر داسې پوښتنه ځنې وکړه ... صاحب! تاسې وویل چې: کوچه، خوچه، مچه او غوچه غوندې کلمات باوازه په «ه» سره کاږو، مګر پېښه خوداسې ده چې په «ی» سره هم کښل کېږي، لکه: کوچې، خوچې، مچې، غوچې... نو بیا به ئې چاره څرنګه کړو؟

هوا! ښه وایې، زما بیا ودغو ته هیڅ فکر نه ؤ. خیر خو سمه ئې داده چې په دواړو یعنې هم ئې په «ه» او هم ئې په «ی» سره وکاږو.

دغه مسئله پېښه سوه او تېره سوه مګر مثلاً او نه ئې په بوه او بل شکل سره او هم وجود لري مثلاً په کندهار کې بردې دېرې خبرې وسوې چې «کښې» هر چیرې د «کې» پر ځای وبل کېږي، او کښل کېږي ولې هغسې؟ ددې معنا دا نه وه چې که هر چیرې د «ك» او «ش» زغرنه څنګ پر څنګ سره راغلې وه نو هورې به ئې «ش» ځنې ایسته کېږي، لکه پر ځای «کښېښونه» او «پکښې» کې چې «کېښوونه» او «پکې» سویدي مګر برعکس واړه نورې ئې وبنګ او تلفظ لري یعنې هغسې وبل کېږي لکه کښل کېږي چې، بل داسې نه ده پېښه سوې چې بو کاانسو نیټا دی لیکل کېږي نه مګر وبل کېږي دی او برعکس ئې لاهو.

په هره نوګه خود «چه» او «چې» ترهغه پېره ګراف وروسته چې مادوه ځایه راانقل کړي دی، د مقدمې په شانې پوه اوزده خاتمه پسې راځي ... او ددې لپاره چې «چه» په «چې» سره ونه کښل سي نو دپوښتنې په نوګه داسې لیکلې کېږي: «.. بېله ضرورت دپښتو په املاء کې نوې صورت پیدا کول څه ضرورت لري؟»

د «چه» لیکنه د «چې» په نوګه، څه دونې درنه موضوع نه ده، لکه ربناغلې خادم نه چې ایسېدلې ده. که بوراز وکښل سي که بل راز خو دپښتو پر ماهیت باندې کوم تاثیر نلري.

هغه تلفظ چې د نومورې کلمې لپاره مته په «چه» شکل کې هم هغسې دی لکه په «چې» کې او په «چې» کې بیا هغسې لکه په «چه» کې، خو داچې د «چه» صورت ئې په «چې» سره اړول سوې دی، یو علت ئې دادی چې د دغې کلمې وروستنې

آواز داسی نه دی لکه د پښتو [که، څه، څه] هغی چی دی نو باید کښینګ ئې ولی سره ورته وی؟ یعنی څنګه ولی چی کپدای سی باید داسی نه وی لکه د فارسی «چه؟» او «که؟» چی کښینګ ئې بوراز او ویښتګ ئې بل راز وی. دغه ئې هم [به چه؟] او [چه] فرق سره کوی.

بیا هم وایم «چه» که هر شکل و کښل سی د ژبی پر ماهیت باندی څه اغیزه نه لری او دا به د ډیره ښه رای چی لیکونکی خپله پورتنۍ پوښتنه دهغو کلماتو و لیکلو نه راوړی وای چی تغییر ئې د ژبی پر ماهیت باندی تأثیر کوی، او هیله ده چی تومـوری ښاغلی د دغسو بې تأثیر و تغیراتو پر ځای باندی وهغوا و ښتنو او اوروتو نه متوجه سی چی تغیر ئې د ژبی پر ماهیت باندی اغیزې ښندی، لکه: د [سول] کښینه د [شو] (جمع) به ئو که.

د [بر] لیکنه د [به] به ئو که د [وسول] کښینه د [وشو] (جمع) به ئو که.

د [ولاړ] لیکنه د [لاړ] به ئو که.

د [ددوی وه] کښینه د [دوی وو] (جمع) به ئو که.

د [کښېښو وا ـه] لیکنه د [کېښېږو نه] به ئو که.

دغه او داسی نور صورتونه سته چی که اصلاح او سم صورتونه ئې واضح سی، زبه به له بې نظمی او هرج و مرج څخه را وژغورو له سی.

د نومورې مقالې پـه ورو ستـه کی د [چه او چی] موضوع تر [ګ] وری رسېدلې ده. داسی چی دغه توری باید یه دوه ټپره [ګ] و کښل سی او که یه یوه ټپر او کړی [ګ] سره؟ زه پخپله یه دغه دوو شکلو کی د لومړنی دوه ټپره والا [ګ] برخوایم ځکه چی دغه شکل لکه ژغ ئې د پښتو او فارسی ژبو ترمنځ مشترک دی. ښائی څرک به وائی چی باید د پښتو او فارسی [ګ] نورو ترمنځ فرق څله وسی مګر دغـه راز دلیل خو ما نه هر ځای نه ایسی ولی چی د پښتو او فارسی ترمنځ واړه هغه توری چی ژغونه ئې سره مشترک دی، دوی هم یو شانی دی، لکه: پ، چ، ژ، س، ل او ولی باید دغه یو مشترک ژغ یه یو شکلو سره و کښل سی؟ که ئې بیا هم څرک د یو والی برخواوی، او دغـه اختلاف بوازی یدې بـوه توری کی کفایت نه کوی او باید د تولی الفباء نه ور کش سی څرنګه؟ هو که یه؟

هو ښکاره، چی زما لیکنه د ښاغلی خادم پر مقالې باندی کوم انتقاد و نـه کړی، ولی تاسی پوهېږئ چی پر مختلفو موضوعاتو باندی د یو یو کسانو له خوا څخه څه نه څه اختلاف پیدا کېږی. او ما هم یه دغی لیکنی کوشش د نومورې ښاغلی لـه منځو او کړنو سره خپل غیر موافقت او نه ملګرتیا څرګنده کړه، خصوصاً بیا پر لانینی لیک باندی چی زه ئې نینګ برخوایم.

[پخپې خبری]

خوشبختی

خوشبختی هغو خلکو ته مخ کوی چی د نـورو خلکو د نیکمرغه کېدلو د پاره کوښښ کوی. [آبرویل]

زړه توب

د زړه تیا د وخت خوشبختی یا بد بختی زموږ د تیرو وختو له کړو څخه پیدا کېږی. [سنت بود]

سلیمان «لایق»

په جنون کی

به لاڅه وی؟

خاندی لېونی چی په جنون کی به لاڅه وی؟
ګوره چی د عشق په موج خون کی به لاڅه وی؟

مست چی د ساقی په یوه عتاب پیاله نسکوره کړه
خدا زده د زاهد په شبخون کی به لاڅه وی؟

خام په یوه جلوه د ترکو ناز بې سده کړی دی
ګوره چی د مینی په تړون کی به لاڅه وی؟

موږ ته د زړونه لا زاړه غمونه پاتی دی
خدای زده چی د عصر نوی یون کی به لاڅه وی؟

توری چی په سپینه ژبه سر د انسان لیری که
ګوره د اتوم په سره لړمون کی به لاڅه وی؟

سر زما د قوم همېشه نورونه خاوری شو
آیا چی په برخه د پښتون کی به لاڅه وی؟

خوځی زلزلې بیا د نړۍ په تنابونو کی
ګوره چپاوونو د ګردون کی به لاڅه وی؟

KANDAHAR

MONTHLY MAGAZINE

OFFICE:-

PRESS DEPARTMENT

KANDAHAR , AFGHANISTAN

EDITOR A.M 'KARZI'

(AUGUST)1962

GOVERNMENTAL PRESS